# د بادشاهانو دویم کِتاب

## د الیاس د اخزیاه بادشاه سره مخالفت

۱ (۱) د اِسرائیل بادشاه اخی‌اب د مرګ نه پس، د موآب مُلک د اِسرائیل خِلاف بغاوت وکړو. (۲) په سامريه کښې د
اِسرائیل بادشاه اخزیاه د خپل محل د بره کوټې د کړکۍ د جالۍ نه راپرېوتو او سخت زخمی شو. نو هغۀ پېغام وړُونکی
ولېږل چې د عقرون په ښار کښې د فلستیانو د خُدائ بعل‌زبوب نه پوښتنه وکړی چې دے به روغ شی او کۀ نه. (۳) خو د
مالِک خُدائ یوې فرښتې الیاس ته حُکم وکړو، چې هغه د تِشبی پېغمبر وو، چې دے لاړ شی او د سامريه اخزیاه بادشاه
پېغام وړونکو سره مِلاو شی او تپوس ترې نه وکړی چې، ”تاسو د عقرون خُدائ بعل‌زبوب سره مشورې له ولې روان یئ؟
ځکه چې ستاسو خیال دا دے چې په اِسرائیل کښې خُدائ نشته؟ (۴) بادشاه ته ووایئ چې، مالِک خُدائ فرمائی چې تۀ به د
کټ نه پا نۀ ځې، او خامخا به مړ شې.“ الیاس د مالِک خُدائ په حُکم عمل وکړو، (۵) او پېغام وړُونکی بادشاه ته راواپس
شول. هغۀ ترې نه تپوس وکړو، ”تاسو ولې واپس راغلئ؟“ (۶) هغوئ ورته ووئیل، ”مونږ یو سړی سره مِلاو شُو او هغۀ
مونږ ته ووئیل چې واپس لاړ شئ او بادشاه نه تپوس وکړئ چې، مالِک خُدائ فرمائی، تا د عقرون خُدائ بعل‌زبوب سره د
مشورې دپاره پېغام وړُونکی ولې لېږلی دی؟ ځکه چې ستا خیال دا دے چې په اِسرائیل کښې خُدائ نشته؟ نو په دې وجه تۀ
به د کټ نه پا نۀ ځې، او مړ به شې.“ (۷) بادشاه ترې نه تپوس وکړو، ”هغه سړے څنګه ښکارېدو؟“ (۸) هغوئ ورته
ووئیل، ”د هغه سړی په وجود ډېر وېښتۀ وُو چې د څرمنې په پټۍ بانډې یې ملا تړلې وه.“ بادشاه ووئیل، ”هغه د تِشبی الیاس
دے.“ (۹) بیا هغۀ د پنځوسو سړو سره یو آفسر ولېږلو چې الیاس راولی. آفسر الیاس پېدا کړو چې په یو غر بانډې ناست
وو او ورته یې ووئیل، ”د خُدائ پاک خِدمتګاره. بادشاه تا له حُکم درکوی چې لانډې راشه.“ (۱۰) الیاس ورته وفرمائیل، ”کۀ
زۀ د خُدائ پاک خِدمتګار یم، نو د آسمان نه دې اور راشی او تا او ستا سړی دې ووژنی.“ نو سمدستی اور راکوز شو او
آفسر او د هغۀ سړی یې ووژل. (۱۱) بادشاه د پنځوسو سړو سره یو بل آفسر ورولېږلو چې هغه وروختلو او الیاس ته یې
ووئیل، ”د خُدائ پاک خِدمتګاره، بادشاه تا له حُکم درکوی چې فوراً لانډې راکوز شه.“ (۱۲) الیاس ورته وفرمائیل، ”کۀ زۀ د
خُدائ پاک خِدمتګار یم، نو د آسمان نه دې اور راکوز شی او تا او ستا سړی دې ووژنی.“ نو سمدستی اور راکوز شو او
آفسر او د هغۀ سړی یې ووژل. (۱۳) بادشاه یو ځل بیا د پنځوسو سړو سره یو آفسر ورولېږلو. هغه غرۀ ته وختلو، هغه د
الیاس په مخکښې تیټ شو او سوال زاری یې ورته وکړه چې، ”د خُدائ پاک خِدمتګاره، په ما او زما په سړو بانډې رحم
وکړه. زمونږ ژوند بچ کړه. (۱۴) هغه نور دوه آفسران او د هغوئ سړی په آسمانی اور بانډې وژلے شوی دی، خو په ما
بانډې رحم وکړه.“ (۱۵) د مالِک خُدائ فرښتې الیاس ته وفرمائیل، ”هغۀ سره لاړ شه او یرېږه مه.“ نو الیاس د هغه آفسر
سره بادشاه له لاړو (۱۶) او بادشاه ته یې وفرمائیل، ”مالِک خُدائ داسې فرمائی چې تا ولې د عقرون خُدائ بعل‌زبوب نه
تپوس دپاره پېغام وړُونکی لېږلی وُو؟ ستا څۀ خیال وو چې په اِسرائیل کښې خُدائ نشته؟ نو په دې وجه تۀ به روغ نۀ شې،
او خامخا به مړ شې.“ (۱۷) لکه څنګه چې مالِک خُدائ د الیاس په ذریعه فرمائیلی وُو، اخزیاه مړ شو. د اخزیاه زامن نۀ
وُو، نو د یهوداه بادشاه د یهوسفط زوئ یهورام د بادشاهۍ په دویم کال د اخزیاه ورور یورام د هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو.
(۱۸) اخزیاه بادشاه چې نور هر څۀ هم کړی وُو هغه د اِسرائیل د بادشاهانو په تاریخ کښې لیکلے شوی دی.

## د الياس آسمان ته خېژولے کېدل

٢ ١ هغه وخت راغلو چې مالِک خُدائ الياس په يو زورَور باد کښې بره آسمان ته وخېژوى. الياس او اليشع د جِلجال
نه روان شول، ٢ او په لار کښې الياس اليشع ته وفرمائيل، ”اوس دلته پاتې شه، مالِک خُدائ ما له حُکم راکړے دے چې
بيت‌ايل ته لاړ شم.“ خو اليشع ورته وفرمائيل، ”زۀ د ژوندى مالِک خُدائ او تا سره په خپله وفادارئ قسم کوم چې زۀ به تا
نه لاړ نۀ شم.“ نو هغوئ بيت‌ايل ته روان ؤو. ٣ د پېغمبرانو يوه ډله د بيت‌ايل نه راووتله، اليشع له لاړه او د هغۀ نه يې
تپوس وکړو، ”تا ته پته ده څۀ چې مالِک خُدائ نن ستا نه نبک بوځى؟“ اليشع ورته وفرمائيل، ”آو، ما ته پته ده، خو دا خبره
مۀ کوئ.“ ٤ بيا الياس اليشع ته وفرمائيل، ”اوس تۀ دلته پاتې شه، مالِک خُدائ ما له حُکم راکړے دے چې يريحو ته لاړ
شم.“ خو اليشع ورته وفرمائيل، ”زۀ د ژوندى مالِک خُدائ سره او تا سره په خپله وفادارئ قسم کوم چې زۀ به ستا نه لاړ نۀ
شم.“ نو هغوئ يريحو ته لاړل. ٥ د پېغمبرانو يوه ډله چې هلته اوسېده اليشع له لاړه او د هغۀ نه يې تپوس وکړو، ”تا ته پته
ده څۀ چې مالِک خُدائ نن ستا نه ستا نبک بوځى؟“ اليشع ورته وفرمائيل، ”آو، ما ته پته ده، خو ښۀ به دا وى چې تاسو ونۀ
وايئ.“ ٦ نو الياس اليشع ته وفرمائيل، ”دلته پاتې شه، مالِک خُدائ ما له حُکم راکړے دے چې د اُردن سيند ته لاړ شم.“
خو اليشع ورته وفرمائيل، ”زۀ د ژوندى مالِک خُدائ او ستا په سر قسم خورم چې زۀ به تا نه لاړ نۀ شم.“ نو هغوئ دواړه
روان شول، ٧ او پنځوس پېغمبران وريسې لاړل. الياس او اليشع د اُردن سيند سره ودرېدل او هغه پنځوس پېغمبران ترې
نه لږ لرې ودرېدل. ٨ بيا الياس خپله چُوغه وويستله، راغونډه يې کړه او سيند يې ورباندې ووهلو، اوبۀ په دوه حِصو
کښې تقسيم شوې او هغه او اليشع په اوچه زمکه باندې د سيند نه پورې وتل. ٩ هلته، الياس اليشع ته وفرمائيل، ”د هغې
نه مخکښې چې زۀ ستا نه بوتلے شم ما ته ووايه چې زۀ ستا دپاره څۀ وکړم.“ اليشع ورته وفرمائيل، ”ما له دې ستا د روح
يو په دوه برخه راکړے شى.“ ١٠ الياس ورته وفرمائيل، ”تا يو مشکل څيز غوښتے دے، خو چې کله زۀ ستا نه جدا کړے
شم او تۀ مې په ختلو ووينې نو دا به تا ته مِلاو شى، خو کۀ تۀ مې ونۀ وينې، نو دا به تا ته نۀ ملاوېږى.“ ١١ کله چې هغوئ
روان ؤو او خبرې يې کولې، نو ناڅاپه يوه د اور جنګى ګاډۍ چې د اور آسونو راښکله د هغوئ مينځ ته راغله او يو زورَور
باد الياس بره آسمان ته وخېژولو. ١٢ اليشع دا وليدل او الياس ته يې چغه کړه، ”زما پلاره، زما پلاره. ګوره، د اِسرائيل
جنګى ګاډو او په دې سوارو کسانو زما نبک يوړو.“ او چې څنګه هغه د نظر نه پناه شو، نو اليشع د غم نه خپلې جامې
وشلولې. ١٣ بيا هغۀ د الياس هغه چُوغه راواخستله چې کومه د الياس نه غورزېدلې وه او واپس لاړو او د اُردن په غاړه
باندې ودرېدو. ١٤ هغۀ د الياس په چُوغه باندې اوبۀ ووهلې او وې فرمائيل، ”مالِک خُدائ، د الياس خُدائ پاک چرته
دے؟“ نو هغۀ اوبۀ بيا ووهلې او اوبۀ تقسيم شوې او هغه بل خوا پورې وتو. ١٥ د يريحو پنځوسو پېغمبرانو هغه وليدو او
ورته يې وفرمائيل، ”د الياس روح د اليشع سره دے.“ هغوئ د هغۀ سره مِلاوېدو له لاړل، د هغۀ په مخکښې زمکې ته د عزت
نه ټيټ شول ١٦ او ورته يې ووئيل، ”دلته مونږ پنځوس سړى يُو چې ټول تکړه يُو. راځئ چې لاړ شُو او ستا نبک ولټوُو.
کېدے شى چې د مالِک خُدائ روح هغه وړے وى او چرته په غر يا وادۍ کښې يې پرېښے وى.“ اليشع ورته وفرمائيل،
”تاسو به نۀ ځئ.“ ١٧ خو هغوئ بيا بيا ووئيل نو هغۀ پرېښودل چې لاړ شى. هغه پنځوسو کسانو درې ورځې لټون وکړو خو
هغه يې ونۀ موندلو. ١٨ کله چې هغوئ راواپس شول نو اليشع تر اوسه پورې په يريحو کښې وو. اليشع ترې نه تپوس وکړو،
”ما تاسو ته وئيلى نۀ وُو څۀ چې مۀ ځئ؟“

## د اليشع معجزې

١٩ د يريحو څۀ سړى اليشع له لاړل او ورته يې ووئيل، ”صاحِبه، تا ته پته ده چې دا يو ښۀ ښار دے، خو اوبۀ يې ښې نۀ

دی او زمکه یې شاړه ده.“ (۲۰) نو هغهٔ حُکم وکړو چې، ”په یو نوی لوښی کښې لږه مالګه واچوئ او ما له یې راوړئ.“ نو
هغوئ ورله مالګه راوړه، (۲۱) او هغه چینې ته لاړو او مالګه یې په اوبو کښې واچوله او وې فرمائیل، ”مالِک خُدائ داسې
فرمائی، زهٔ دا اوبهٔ صفا کوم، نو نور څوک به نهٔ مری او زمکه به شاړه نهٔ وی.“ (۲۲) او هغه اوبهٔ تر اوسه پورې صفا دی،
لکه څنګه چې الیشع فرمائیلی وُو چې داسې به وی. (۲۳) الیشع د یریحو نه روان شو چې بیت‌ایل ته لاړ شی او په لار کښې
څهٔ هلکان د ښار نه راووتل او په هغهٔ پورې یې ټوقې کولې. هغوئ چغې وهلې، ”د دې ځائ نه لاړ شه ګنجیه.“ (۲۴) الیشع
راوګرځېدو، هلکانو ته یې وکتل او د مالِک خُدائ په نوم یې په هغوئ لعنت ووئیلو. نو د ځنګل نه دوه مېلوګانې راووتلې او
دوه څلوېښت هلکان یې ټوټې ټوټې کړل. (۲۵) الیشع د کرمل غر ته روان وو او وروستو سامریه ته راواپس شو.

## د اِسرائیل او موآب په مینځ کښې جنګ

۳ (۱) نو د یهوداه بادشاه یهوسفط د بادشاهئ په اتلسم کال، د اخی‌اب زوئ یورام د اِسرائیل بادشاه شو او په سامریه
باندې یې دولس کاله بادشاهی وکړه. (۲) هغهٔ د مالِک خُدائ خِلاف ګناه کړې وه، خو د خپل پلار یا د خپلې مور ایزبل په
شان خراب نهٔ وو او د بعل هغه بُت یې راوغورزولو کوم چې د هغهٔ پلار جوړ کړے وو. (۳) خو یورام د نباط زوئ یربعام
په شان ګناه کوله. یورام اِسرائیلیان د ګناه طرف ته بوتلل او دا ګناه یې نهٔ پرېښوده. (۴) د موآب بادشاه میسا به ګډې
ساتلې او هر کال یې سل زره ګډُورې او د سلو زرو ګډو وړۍ د اِسرائیل بادشاه له په محصُول کښې ورکولې. (۵) خو چې
د اِسرائیل بادشاه اخی‌اب مړ شو، نو میسا د اِسرائیل خِلاف بغاوت وکړو. (۶) نو یورام سمدستی د سامریه نه لاړو او خپل
ټول فوجیان یې راغونډ کړل. (۷) هغهٔ د یهوداه بادشاه یهوسفط له دا پیغام ولېږلو، ”د موآب بادشاه زما خِلاف بغاوت کړے
دے، تهٔ به د هغهٔ خِلاف په جنګ کښې زما ملګرتیا کوې څهٔ؟“ یهوسفط بادشاه ورته په جواب کښې ووئیل، ”زهٔ به ستا
ملګرتیا وکړم، زما سړی، آسونه او زهٔ ستا د حُکم لاندې یُو. (۸) خو د حملې دپاره به په کومه لار ځُو؟“ یورام ورته ووئیل،
”مونږ به د ادوم په صحرا کښې په اوږده لار باندې لاړ شُو.“ (۹) نو یورام بادشاه او د یهوداه او ادوم بادشاهان روان شول.
د اوو ورځو د مزل نه پس، د هغوئ سره اوبهٔ ختمې شوې او د سړو او د ځناورو دپاره لږې هم پاتې نهٔ شوې. (۱۰) یورام
بادشاه په خفګان کښې ووئیل، ”افسوس، مالِک خُدائ مونږ درې واړه دلته د دې دپاره راوستی یُو چې موآبیانو ته مو حواله
کړی.“ (۱۱) یهوسفط تپوس وکړو، ”دلته داسې پېغمبر نشته څهٔ چې د هغهٔ په ذریعه مونږ د مالِک خُدائ نه تپوس وکړُو؟“ نو
د یورام بادشاه د فوج یو آفسر ورته ووئیل، ”د سافط زوئ الیشع دلته شته. هغه د الیاس مددګار وو.“ (۱۲) یهوسفط بادشاه
ووئیل، ”مالِک خُدائ د هغهٔ په ذریعه کلام کوی.“ نو هغه درې بادشاهان الیشع له لاړل. (۱۳) الیشع د اِسرائیل بادشاه ته
وفرمائیل، ”زهٔ به تا باندې څهٔ وکړم، هغه پېغمبرانو له لاړ شه چې ستا مور او پلار ورسره مشوره کوله.“ خو یورام ورته
ووئیل، ”نه، ځکه چې دا مالِک خُدائ وو چې مونږ درې بادشاهان یې راغونډ کړُو چې موآبیانو ته مو حواله کړی.“ (۱۴)
الیشع ورته وفرمائیل، ”زهٔ د هغه ژوندی ربُ الافواج په نوم قسم کوم د چا چې زهٔ خِدمت کوم، کهٔ ما ستاسو د ملګری د
یهوداه بادشاه یهوسفط عزت نهٔ کولے نو ما به ستاسو دپاره هیڅ هم نهٔ وُو کړی. (۱۵) اوس ما له د موسیقئ والا راوله.“ نو
کله چې هغهٔ موسیقی وغږوله، نو مالِک خُدائ په الیشع باندې وحی نازله کړه، (۱۶) او الیشع وفرمائیل، ”مالِک خُدائ داسې
فرمائی، دا اوچه وادی به د اوبو د ډنډونو نه ډکه شی. (۱۷) تاسو به هیڅ باران یا هوا ونهٔ وینئ، خو دا نِهر به بیا هم د اوبو نه
ډک شی او تاسو، ستاسو څاروی او نور ځناور به اوبهٔ وڅښی. (۱۸) خو دا کار کول د مالِک خُدائ دپاره آسان دے، هغه
به تاسو له په موآبیانو باندې فتح هم درکړی. (۱۹) تاسو به د هغوئ د پَخو دېوالونو والا ټول ښائسته ښارونه فتح کړئ، تاسو
به ټولې ښې ونې راوغورزوئ، ټولې چینې به بندې کړئ او د هغوئ ټول آباد پټی به تباه کړئ او په کاڼو به یې پټ کړئ.“ (۲۰)

په ورپسې سحر، د سحر د نذرانې په وخت، د ادوم د طرف نه اوبۀ راوبهېدلې او مُلک د اوبو نه ډک شو. ۲۱ کله چې
موآبيان خبر شول چې هغه درې بادشاهان په هغوئ باندې د حملې دپاره راغلی دی، نو هغه ټول بوډاګان او ځوانان سړی
راوغوښتے شول چا چې جنګ کولے شو او هغوئ د حد په پوله باندې د جنګ دپاره ودرولے شول. ۲۲ په ورپسې سحر
چې هغوئ پاڅېدل، نو نمر په اوبو باندې ځلېدو او اوبۀ د وينو په شان سرې ښکارېدلې. ۲۳ هغوئ په حېرانتيا سره ووئيل،
”ګورئ، دا خو وينه ده، هغه درې لښکرو به د يو بل سره جنګ کړے وی او ټول به مړۀ شوی وی. راځئ چې مالِ غنيمت
راغونډ کړُو.“ ۲۴ خو چې کله هغوئ خېمو ته ورسېدل، نو اِسرائيل ورباندې حمله وکړه او واپس يې وشړل. اِسرائيليان د
موآب مُلک پورې په هغوئ پسې وُو او په تلو تلو کښې يې هغوئ وژل ۲۵ او د هغوئ ښارونه يې تباه کول. کله چې هغوئ د
آباد پټی نه تېرېدل، نو هر يو اِسرائيلی به يو کاڼے وراچولو چې په کاڼو به پټ شو، هغوئ ټولې چينې هم بندې کړې او ټولې
ښې ونې يې راوغورزولې. په آخر کښې صِرف د قيرحراست شاهی ښار پاتې شو او چې د کومو سړو سره لينډې وې نو
هغوئ دا ښار محاصره کړو او حمله يې وربانديې وکړه. ۲۶ کله چې د موآب بادشاه ته پته ولګېده چې جنګ بائيلی، نو
هغۀ خپل اووۀ سوه د تُورو والا فوجيان د ځان سره کړل او د دشمن په صفونو کښې يې د ځان دپاره د لارې جوړولو
کوشش وکړو چې د شام بادشاه له وتښتی، خو هغه ناکامه شو. ۲۷ نو هغۀ خپل مشر زوئ د ځان سره بوتلو چې کوم د
هغۀ نه پس بادشاه جوړېدو او هغه يې په دېوال باندې د سوزېدونکې نذرانې په توګه پېش کړو. نو په اِسرائيل سخت قهر نازل
شو او هغوئ د ښار نه راوګرځېدل او خپل مُلک ته راواپس شول.

## د اليشع د يوې غريبې کونډې مدد کول

۴ ۱ د پېغمبرانو د يوې ډلې د يو پېغمبر کونډه اليشع له لاړه او ورته يې ووئيل، ”صاحِبه، زما خاوند مړ دے. لکه څنګه
چې تا ته پته ده چې هغه د مالِک خُدائ نه يرېدو، نو ما له قرض‌خوا راغلے دے چې زما دوه زامن بوځی او خپل غلامان
يې جوړ کړی.“ ۲ هغۀ ترې نه تپوس وکړو، ”زۀ ستا دپاره څۀ وکړم؟ ما ته ووايه چې ستا په کور کښې څۀ شته؟“ هغې
ورته ووئيل، ”د زيتُونو تېلو د يو وړوکی لوښی نه بغير هيڅ هم نشته.“ ۳ اليشع هغې ته وفرمائيل، ”خپلو ټولو ګاونډيانو کره
لاړه شه او چې څومره ډېر کېدے شی د هغوئ نه خالی لوښی وغواړه. ۴ بيا تۀ او ستا زامن کور ته لاړ شئ، دروازه بنده
کړئ او په لوښو کښې تېل اچول شروع کړئ. چې يو لوښے ډکېږی نو هغه يو طرف ته ايږدئ.“ ۵ نو هغه ښځه خپلو
زامنو سره کور ته دننه لاړه، دروازه يې بنده کړه، د زيتُونو هغه وړوکے لوښے يې واخستلو او تېل يې په لوښو کښې اچول
او د هغې زامنو ورله لوښی راوړل. ۶ کله چې هغوئ ټول لوښی ډک کړل، نو هغې ترې نه تپوس وکړو چې نور شته. نو يو
زوئ ورته ووئيل، ”نور نشته.“ نو د تېلو بهېدل بند شول. ۷ هغه واپس اليشع پېغمبر له لاړه او هغۀ ورته وفرمائيل، ”د
زيتُونو تېل خرڅ کړه او خپل ټول قرض ختم کړه او چې پېسې پاتې شی نو په هغې باندې تۀ او ستا زامن خپله خرچه کوئ.“

## اليشع او د شونيم مالداره ښځه

۸ يوه ورځ اليشع شونيم ته لاړو، چرته چې يوه مالداره ښځه اوسېده. هغې هغۀ له د روټۍ دعوت ورکړو، بيا چې هغه کله
هم شونيم ته تلو نو د هغې په کور کښې به يې روټۍ خوړله. ۹ هغې خپل خاوند ته ووئيل، ”دلته چې کوم سړے اکثر راځی
نو زما دا يقين دے چې هغه د خُدائ پاک خِدمتګار دے. ۱۰ راځه چې په چت باندې يوه وړه کوټه جوړه کړُو، يو کټ،
مېز، کُرسۍ او يوه ډيوه به په کښې کېږدو او چې هغه کله مونږ له راځی نو هلته به پاتې کېږی.“ ۱۱ يوه ورځ هغه راغلو او د
آرام دپاره خپلې کوټې ته وختلو. ۱۲ نو هغۀ خپل نوکر جيحازی ته وفرمائيل چې، ”لاړ شه او هغه شونيمی ښځه راوغواړه.“

کله چې هغه راغله، ۱۳ نو هغهٔ جيحازی ته وفرمائيل، ”هغې ته ووايه چې زمونږ د ضرورتونو پوره کولو دپاره يې کوم
تکليف کړے دے نو د دې په بدل کښې زهٔ د هغې دپاره څهٔ وکړم. کېدے شی چې هغه ما ته ووائی چې بادشاه يا د فوج
مشر له لاړ شم او د هغې سفارش وکړم.“ هغې ورته ووئيل، ”زما خلق زما خيال ساتی.“ ۱۴ اليشع د جيحازی نه تپوس
وکړو، ”نو زهٔ د هغې دپاره څهٔ وکړم؟“ هغهٔ ورته ووئيل، ”خبره دا ده چې د هغې بچی نشته او د هغې خاوند يو بوډا سړے
دے.“ ۱۵ اليشع حُکم وکړو، ”هغې ته ووايه چې دلته راشی.“ نو هغه راغله او د دروازې په خولهٔ کښې ودرېدله، ۱۶ اليشع
هغې ته وفرمائيل، ”په راتلونکی کال کښې هم په دې وخت کښې به تا په خپل غېږ کښې يو زوئ نيولے وی.“ هغې ووئيل،
”صاحِبه، ما ته دروغ مهٔ وايه. تهٔ د خُدائ پاک خِدمتګار يې.“ ۱۷ خو لکه چې څنګه اليشع فرمائيلی وُو، په ورپسې کال
تقريباً هم هغه وخت د هغې يو زوئ پيدا شو. ۱۸ کله چې هلک لوئ شو نو يوه ورځ هغه بهر خپل پلار له ووتلو، پلار يې د
لَوګرو سره په پټی کښې وو. ۱۹ ناڅاپه هغهٔ خپل پلار ته چغه کړه، ”زما په سر څهٔ وشول. زما سر خوږېږی.“ پلار يې يو
نوکر ته ووئيل، ”هلک خپلې مور له بوځه.“ ۲۰ هغه نوکر هلک واپس خپلې مور له بوتلو، او تر هغې پورې يې په غېږ کښې
نيولے وو، چې د غرمې په وخت هغه مړ شو. ۲۱ هغې هغه د اليشع کوټې له يوړو، هغه يې په کټ کښې واچولو او لاړه،
دروازه يې ورپسې بنده کړه. ۲۲ بيا يې خپل خاوند راوغوښتلو او ورته يې ووئيل، ”يو نوکر د خر سره دلته راولېږه چې زهٔ
زر زر د خُدائ پاک خِدمتګار له لاړه شم او بيا واپس راشم.“ ۲۳ خاوند ترې نه تپوس وکړو، ”تهٔ نن ولې روانه شوې؟ نن
خو نهٔ د سبت ورځ ده او نهٔ د نوې مياشتې اختر دے.“ هغې ورته ووئيل، ”خېر به شی.“ ۲۴ بيا هغې خر کته کړو او نوکر
له يې حُکم ورکړو، ”څومره تېز چې خر تلے شی نو بو يې ځه او چې ما درته وئيلی نهٔ وی نو چې په مزه يې نهٔ کړې.“ ۲۵
نو هغه روانه شوه او د کرمل غر ته لاړه، چرته چې اليشع وو. اليشع هغه د لرې ځائ نه وليده چې راروانه وه او خپل نوکر
جيحازی ته يې وفرمائيل، ”ګوره، هغه ښځه د شونيم نه راغله. ۲۶ هغې له تېز ورشه او دا معلوم کړه چې هغه، د هغې
خاوند، د هغې زوئ په خير دی.“ هغه ښځې جيحازی ته ووئيل، ”آو، هر څهٔ په خير دی.“ ۲۷ خو چې کله هغه په غرهٔ باندې
اليشع له راغله نو هغه د اليشع په مخکښې تيټه شوه او هغهٔ ته په پښو پرېوته. جيحازی هغې له ديکه ورکوله چې اليشع ورته
وفرمائيل، ”هغه پرېږده، تهٔ دا نهٔ ګورې چې ډېره زياته خفه ده؟ او مالِک خُدائ ما ته نهٔ دی وئيلی چې څهٔ شوی دی.“ ۲۸
ښځې هغهٔ ته ووئيل، ”صاحِبه، ما ستا نه زوئ غوښتے وو څهٔ؟ ما تا ته نهٔ وُو وئيلی چې زما اُميدونه مهٔ راپاڅوه؟“ ۲۹
اليشع جيحازی له مخ راوړولو او ورته يې وفرمائيل، ”ځان تيار کړه، زما امسا واخله او لاړ شه. په لاره باندې د چا سره
سلام دُعا مهٔ کوه او کهٔ په تا څوک سلام اچوی نو جواب هم مهٔ ورکوه. هغه کور ته سيدها لاړ شه او زما امسا د هلک په
مخ باندې کېږده.“ ۳۰ د هلک مور اليشع ته ووئيل، ”زما دې په ژوندی مالِک خُدائ او ستا په سر قسم وی چې زهٔ به ستا
نه بغير لاړه نهٔ شم.“ نو اليشع د هغې سره لاړو. ۳۱ جيحازی وړاندې لاړو او د هلک په مخ يې امسا کېښوده، خو هيڅ آواز
يا د ژوند څهٔ علامت په کښې نهٔ وو. نو هغه د اليشع سره مِلاوېدو دپاره واپس لاړو او ورته يې ووئيل، ”هغه هلک خو پا نهٔ
څېدو.“ ۳۲ کله چې اليشع ور ورسېدو، نو هغه کوټې ته يواځې دننه لاړو او وې ليدل چې هلک په کټ باندې مړ پروت دے.
۳۳ هغهٔ دروازه بنده کړه او مالِک خُدائ ته يې سوال وکړو. ۳۴ بيا هغه کټ له لاړو او په هلک ورپرېوتلو، خپله خولهٔ يې
د هلک په خولهٔ کېښوده، سترګې د هغهٔ په سترګو او لاسونه يې د هلک په لاسونو کېښودل. بيا هغه د هلک د پاڅه څملاستو،
نو هلک ګرمېدو. ۳۵ اليشع پاڅېدو، په کوټه کښې وګرځېدو او واپس لاړو او په هلک باندې څملاستو. هلک اووهٔ ځل
انتوشی وکړو او بيا يې سترګې وغړولې. ۳۶ اليشع جيحازی راوغوښتلو او ورته يې وفرمائيل چې، ”د هلک مور راوغواړه.“
کله چې هغه راغله، نو هغهٔ ورته وفرمائيل، ”زوئ دې واخله.“ ۳۷ نو هغه د اليشع په پښو پرېوتله، زمکې ته ټيټه شوه، او بيا
هغې خپل زوئ واخستلو او لاړه.

## دوه نورې معجزې

۳۸ کله چې اليشع جِلجال ته راواپس شو، نو په هغه مُلک کښې قحط وو. د پېغمبرانو يوه ډله د هغۀ په وړاندې ناسته وه،
هغۀ خپل نوکر ته وفرمائيل چې په اور باندې يو غټ لوښے کېږده او د هغوئ دپاره ښوروا تياره کړه. ۳۹ د هغوئ نه يو
کس پټيو ته لاړو چې څۀ بوټي راټول کړی. هغۀ د ځنګلی کدو يو بوټے وموندلو او د ځنګلی کدوانو نه يې يوه غېږه راټوله
کړه. هغۀ دا راوړل، پرې يې کړل او په ښوروا کښې يې واچول، خو په دې نۀ پوهېدو چې دا څۀ شے دے. ۴۰ ښوروا هغه
سړو ته واچولے شوه چې وې خوری، خو چې څنګه يې دا وڅکله نو هغوئ اليشع ته وفرمائيل، ”اے د خُدائ پاک
خِدمتګاره. په دې لوښی کښې خو زهر دی.“ او هغوئ دا نۀ شوه خوړلے. ۴۱ اليشع څۀ اوړۀ راوغوښتل، لوښی کښې يې
واچول او وې فرمائيل، ”هغوئ ته لږه نوره ښوروا واچوه.“ نو په لوښی کښې ښوروا ټيک شوه. ۴۲ يو بل ځل، د
بعل‌سليسه نه يو سړے راغلو، اليشع له يې شل روټۍ راوړې چې په هغه کال د اوربشو د اول فصل نه تيارې شوې وې او
څۀ تازه وَږی يې هم راوړل. اليشع خپل نوکر ته وفرمائيل چې، ”د پېغمبرانو قبيلې له دا خوراک ورکړه،“ ۴۳ خو هغۀ ورته
وفرمائيل، ”سلو سړو ته دا خوراک څنګه کېږدم؟“ اليشع ورته وفرمائيل، ”هغوئ له يې ورکړه چې وې خوری، ځکه چې
مالِک خُدائ فرمائی چې هغوئ به ورباندې ماړۀ شی او ترې نه پاتې به هم شی.“ ۴۴ نو نوکر روټۍ د هغوئ په مخکښې
کېښوده او لکه چې څنګه مالِک خُدائ فرمائيلی وُو، هغوئ ټولو روټۍ وخوړه او څۀ ترې نه پاتې هم شوه.

## د نعمان روغېدل

**۵** ۱ نو د شامی فوج مشر نعمان، د شام د بادشاه يو ډېر عزتمند کس وو، ځکه چې د نعمان په ذريعه مالِک خُدائ
شامی فوج له فتح ورکړې وه. هغه يو تکړه فوجی وو، خو د جذام بيماری يې لرله. ۲ د اِسرائيل خِلاف په يوه حمله کښې،
شاميانو يوه وړه اِسرائيلی جينۍ بوتله، چې هغه د نعمان د ښځې نوکره شوه. ۳ يوه ورځ هغې خپلې نېکې ته ووئيل، ”زما
خواهش دے چې زما نېک هغه سامری پېغمبر له لاړ شی. نو د هغۀ په ذريعه به زما نېک د جذام نه روغ شی.“ ۴ کله چې
نعمان دا واورېدل، نو هغه بادشاه له لاړو او چې جينۍ څۀ وئيلی وُو هغه يې ورته ووئيل. ۵ بادشاه ورته ووئيل، ”د
اِسرائيل بادشاه له لاړ شه او دا خط هغۀ له يوسه.“ نو نعمان روان شو او د سپينو زرو دېرش زره سيکې، شپږ زره د سرو
زرو سيکې او لس جوړه ښې جامې يې يوړې. ۶ هغۀ چې کوم خط د اِسرائيل بادشاه له وړے وو په هغې کښې وئيلے
شوی وُو، ”کله چې دا خط دروړسی نو تۀ به زما آفسر نعمان وپېژنې. زۀ غواړم چې تۀ د هغۀ د جذام علاج وکړې.“ ۷ کله
چې د اِسرائيل بادشاه دا خط وکتلو، نو هغۀ د يرې نه خپلې جامې وشلولې او وې وئيل، ”د شام د بادشاه دا خيال دے چې
زۀ دا جذامی سړے روغ کړم؟ ولې زۀ خُدائ پاک يم، چې ژوندی کول او مړۀ کول کوم؟ هغه په دې کوشش کښې دے چې
ما سره جنګ شروع کړی.“ ۸ کله چې اليشع پېغمبر د دې نه خبر شو، نو هغۀ بادشاه له دا خبر ورولېږلو، ”تۀ ولې خفه
يې؟ هغه سړے ما له راولېږه، نو هغۀ ته به پته ولګی چې په اِسرائيل کښې پېغمبر شته.“ ۹ نو نعمان د خپلو آسونو او
جنګی ګاډو سره لاړو او د اليشع د کور د دروازې په خوله کښې ودرېدلو. ۱۰ اليشع يو نوکر بهر ورولېږلو چې هغۀ ته
ووائی چې، ”لاړ شه او خپل ځان د اُردن په سيند کښې اووۀ ځل ووينځه، نو ستا څرمن به بيا ښۀ شی او تۀ به د جذام نه
روغ شې.“ ۱۱ خو نعمان غصه شو او لاړو او وې وئيل، ”زما خيال دا وو چې هغه به خامخا ما له راوځی، مالِک خُدائ
خپل خُدائ پاک ته به سوال وکړی او زما د بيمارۍ څرمنې دپاسه به خپل لاس ونيسی او زۀ به روغ شم. ۱۲ په دمشق
کښې د ابانه او فرفر سيندونه په اِسرائيل کښې د ټولو سيندونو نه ښۀ نۀ دی څۀ؟ ما په هغه سيندونو کښې خپل ځان نۀ شو

وینځلے چې روغ شوے وے." نو هغه راواپس شو او په غصه کښې لاړو. ۱۳ د هغۀ نوکران ورغلل او ورته یې ووئیل،
"صاحِبه، کۀ تا ته پېغمبر فرمائیلی وے چې څۀ غټ کار وکړه، نو تا به نۀ وو کړے څۀ؟ لکه څنګه چې هغۀ درته وفرمائیل
نو تۀ خپل ځان ولې نۀ وینځې چې روغ شې؟" ۱۴ نو نعمان د اُردن سیند ته کوز شو، اووۀ ځل یې خپل ځان په کښې غوپه
کړو، لکه چې څنګه الیشع ورته فرمائیلی وُو او هغه بلکل روغ شو. د هغۀ څرمن د یو ماشوم په شان روغه شوه. ۱۵ نو
هغه د ټولو سرو سره الیشع ته راواپس شو او وې وئیل، "ګوره، ما ته پته ده چې د بنی اِسرائیلو د خُدائ پاک نه بغېر بل یو
خُدائ هم نشته، نو صاحِبه، زما نه تُحفه قبوله کړه." ۱۶ الیشع ورته وفرمائیل، "زۀ د هغه ژوندی مالِک خُدائ په نوم قسم
کوم چې زۀ یې خِدمت کوم چې زۀ به یوه تُحفه هم نۀ قبلوم." نو نعمان بیا بیا ورته وئیل چې دا قبوله کړه، خو هغۀ نۀ
اخستله. ۱۷ نو نعمان ووئیل، "کۀ تۀ زما نه تُحفه نۀ قبلوې، نو ما پرېږده چې دوه قچرې په خاورو باندې بار کړم، ځکه چې
د نن نه به زۀ د مالِک خُدائ نه بغېر بل یو خُدائ ته هم سوزېدونکې نذرانه یا قربانی پېش نۀ کړم. ۱۸ خو مالِک خُدائ دې
ستا خِدمت کوونکی ته دا یوه غلطی معاف کړی، کله چې زما نېک د رِمون عبادتخانې ته د سجدې دپاره ننوځی او هغۀ زما
په لاس باندې تکیه وهلې وی او هلته زۀ هم ورسره ټیټ شم، نو چې زۀ کله د رِمون په عبادتخانه کښې ټیټېږم، نو مالِک
خُدائ دې ستا خِدمت کوونکے د دې په وجه معاف کړی." ۱۹ الیشع ورته وفرمائیل، "په خېر لاړ شه." او نعمان لاړو.
هغۀ لږ شان مزل کړے وو، ۲۰ چې د الیشع نوکر جیحازی د خپل ځان سره ووئیل، "زما نېک نعمان هم داسې پرېښودو
او یو څیز یې هم ترې نه وانۀ خستلو. هغه شامی چې څۀ راوړی وُو نو دۀ له په کار وُو چې هغه یې ترې نه اخستے وے. زۀ
په ژوندی مالِک خُدائ قسم کوم چې زۀ به په هغۀ پسې ورمنډه کړم او څۀ نه څۀ به ترې نه واخلم." ۲۱ نو هغه په نعمان
پسې روان شو. کله چې نعمان ولیدل چې یو سړی ورپسې منډې وهلې، نو هغه د خپلې جنګی ګاډۍ نه ورکوز شو او تپوس
یې ترې نه وکړو، "خېر خو دے؟" ۲۲ جیحازی ورته ووئیل، "بلکل خېر دے، خو زۀ خپل نېک د دې دپاره راولېږلم چې تا
ته ووایم چې دا اوس اوس د پېغمبرانو د قبیلې دوه پېغمبران د غرونو مُلک اِفرائیم نه راورسېدل، نو هغوئ له درې زره د
سپینو زرو سیکې او دوه جوړه ښې جامې ورکړه." ۲۳ نعمان ورته ووئیل، "صاحِبه، د سپینو زرو شپږ زره سیکې واخله."
هغۀ ورته بیا بیا وئیل، او هغۀ سپین زر په دوو بوجو کښې وتړل او خپلو دوو نوکرانو له یې دوه جوړه ښې جامې ورکړې او
د جیحازی نه مخکښې یې ولېږل. ۲۴ کله چې هغوئ هغه غر ته ورسېدل چرته چې الیشع اوسېدو، نو جیحازی هغه دوه
بوجۍ واخستلې او کور ته یې یوړې. بیا هغۀ د نعمان نوکران واپس ولېږل. ۲۵ هغه کور ته واپس لاړو او الیشع ترې نه
تپوس وکړو، "تۀ چرته وې؟" هغۀ ورته ووئیل، "ستا خِدمت کوونکے هیچرته هم نۀ دے تلے." ۲۶ خو الیشع ورته
وفرمائیل، "زما روح هلته تا سره نۀ وو څۀ چې کله هغه سړے د خپلې جنګی ګاډۍ نه تا له راکوز شو؟ دا وخت د پېسو او
جامو، د زیتُونو ونو او د انګورو باغونو، د ګډو او څاروو یا د نوکرانو د قبلولو نۀ دے. ۲۷ نو په دې وجه د نعمان بیماری
به په تا او ستا په اولاد باندې د همېشه دپاره وی." کله چې جیحازی لاړو، نو په هغۀ دا بیماری راغله او د هغۀ څرمن د
واورې په شان سپینه شوه.

## د تبر د سر معجزه

۶ ۱ یوه ورځ د الیشع د قبیلې پېغمبران الیشع له ورغلل او هغوئ ورته وفرمائیل چې، "په کوم ځائ کښې چې مونږ ستا
د مشرۍ لاندې اوسېږو نو هغه ځائ زمونږ دپاره ډېر وړوکے دے. ۲ مونږ له اجازت راکړه چې د اُردن سیند ته لاړ شُو
نو مونږ هر یو به یو یو تیر ووهو، نو د اوسېدو دپاره به یو ځائ جوړ کړُو." الیشع ورته وفرمائیل، "لاړ شئ." ۳ په هغوئ
کښې یو الیشع ته وفرمائیل چې، "صاحِبه، مونږ سره لاړ شه،" نو هغه ورسره لاړو، ۴ او هغوئ په یو ځائ روان شول.

کله چې هغوئ د اُردن سيند ته ورسېدل، نو هغوئ ونې وهل شروع کړل. ۵ کله چې هغه يو په کښې يوه ونه وهله، نو
ناڅاپه د هغهٔ د تبر نه د اوسپنې سر په اوبو کښې وغورزېدو. هغهٔ چغه کړه، "زما نيکه، دا تبر مې د بل چا نه اخستے وو."
۶ اليشع ترې نه تپوس وکړو، "هغه په کوم ځائ کښې ورغورزېدو؟" نو سړی ورته هغه ځائ وښودلو او اليشع يو لرګے
پرې کړو او په اوبو کښې يې وغورزولو، نو د تبر سر راووتلو او د اوبو دپاسه ګرځېدو. ۷ هغهٔ ورته وفرمائيل، "دا بهر
راوباسه." او هغه سړی خپل لاس وراوږد کړو او راواې خستلو.

## د شامی فوج شکست خوړل

۸ د شام بادشاه د اِسرائيل سره په جنګ وو. هغهٔ د خپلو آفسرانو سره مشوره وکړه او يو ځائ يې خوښ کړو چې هلته
خپلې خېمې ولګوی. ۹ خو اليشع د اِسرائيل بادشاه له خبردارے ورولېږلو چې هغه ځائ ته ورنزدې نهٔ شی، ځکه چې
شاميان هلته د حملې دپاره پټ وُو. ۱۰ نو د اِسرائيل بادشاه هغه خلقو له خبردارے ورکړو کوم چې په هغه ځائ کښې
اوسېدل او د اِسرائيل بادشاه هغوئ د نظر لاندې ساتل. داسې څو څو ځلې وشول. ۱۱ شامی بادشاه په دې باندې ډېر
زيات خفه شو، هغهٔ خپل آفسران راوغوښتل او تپوس يې ترې نه وکړو، "ستاسو کوم يو کس د اِسرائيل د بادشاه طرفداری
کوی؟" ۱۲ يو په کښې ووئيل، "بادشاه سلامت، هيڅ څوک هم نه. اليشع پېغمبر د اِسرائيل بادشاه ته ستا هغه خبرې هم
کوی چې تهٔ يې د خملاستو په کوټه کښې کوې." ۱۳ بادشاه حُکم وکړو، "هغه ولټوئ چې کسان ورولېږم او وې نيسم."
کله چې هغهٔ ته ووئيلے شول چې هغه په دوتين کښې دے، ۱۴ نو هغهٔ هلته د آسونو او جنګی ګاډو سره يو لوئ لښکر
ولېږلو. هغوئ د شپې هغه ښار ته ورسېدل او محاصره يې کړو. ۱۵ په وريسې سحر وختی د اليشع نوکر پاڅېدو، د کور نه
بهر لاړو او شامی لښکر او د هغوئ آسونه او جنګی ګاډې يې وليدې چې ښار يې محاصره کړے وو. هغه اليشع له واپس
لاړو او ورته يې ووئيل، "زما نيکه، غرق شُو څهٔ وکړُو؟" ۱۶ اليشع ورته وفرمائيل، "مهٔ يرېږه، مونږ سره چې څهٔ دی نو دا د
هغوئ د هر څهٔ نه زيات دی." ۱۷ بيا هغهٔ دُعا وکړه، "اے مالِکه خُدايه، د هغهٔ سترګې وغړوه نو چې هغه يې وګوری."
مالِک خُدائ د هغهٔ سوال واورېدو او د اليشع نوکر چې بره وکتل نو وې ليدل چې د اليشع نه ګېرچاپېره غر د اور د آسونو
او جنګی ګاډو نه ډک وُو. ۱۸ کله چې شاميانو حمله وکړه، نو اليشع دُعا وکړه، "اے مالِکه خُدايه، دا سړی ړاندهٔ کړه." نو
مالِک خُدائ د هغهٔ سوال واورېدو او هغوئ يې ړاندهٔ کړل. ۱۹ بيا اليشع هغوئ له ورَغلو او ورته يې وفرمائيل، "تاسو په
غلطه لار روان يئ، دا هغه ښار نهٔ دے کوم چې تاسو لټوئ. ما پسې راځئ او زهٔ به مو هغه سړی له بوځم چې کوم تاسو
لټوئ." نو هغهٔ هغوئ سامريه ته بوتلل. ۲۰ چې څنګه هغوئ ښار ته ورننوتل، نو اليشع دُعا وکړه، "اے مالِکه خُدايه، د
هغوئ سترګې وغړوه چې هغوئ ليدل وکړی." نو مالِک خُدائ د هغهٔ سوال واورېدو، هغهٔ د هغوئ نظر ښهٔ کړو او هغوئ
وليدل چې هغوئ په سامريه کښې دننه وُو. ۲۱ کله چې د اِسرائيل بادشاه شاميان وليدل، نو هغهٔ د اليشع نه تپوس وکړو،
"صاحِبه، زهٔ هغوئ ووژنم؟ زهٔ هغوئ ووژنم څهٔ؟" ۲۲ هغهٔ ورته وفرمائيل، "نه، هغه فوجيان مهٔ وژنه. کهٔ هغوئ په جنګ
کښې هم نيولے شوی وے نو هغوئ به دې نهٔ وژلے. هغوئ ته روټۍ او اوبهٔ کېږده، چې خوراک څښاک وکړی نو واپس
دې خپل نيک له لاړ شی." ۲۳ نو د اِسرائيل بادشاه د هغوئ دپاره يوه لويه مېلمستيا وکړه، او چې هغوئ خوراک څښاک
وکړو، نو هغوئ يې واپس د شام بادشاه له ولېږل. نو د هغه وخت نه شاميانو د اِسرائيل په مُلک باندې حمله کول پرېښودل.

## د سامريه محاصره

۲۴ څهٔ موده وروستو د شام بادشاه بِنحدد د اِسرائيل خِلاف خپل ټول فوج روان کړو او د سامريه ښار يې محاصره کړو.
۲۵ نو د دې محاصرې په وجه په ښار کښې د خوراک کمے دومره زيات شو چې د خر يو سر د سپينو زرو په اتيا سيکو

بانديې خرڅېدو او د تقريباً يو پاو د ګوګوشتکې غل د سپينو زرو په پينځو سيکو بانديې خرڅېدل. ۲۶ د اِسرائيل بادشاه د
ښار په دېوال باندې ګرځېدو چې يوې ښځې ورته چغه کړه، ”بادشاه سلامت، زما مدد وکړه.“ ۲۷ هغهٔ ورته ووئيل، ”مالِک
خُدائ چې ستا مدد نهٔ کوی، نو زهٔ دې څنګه مدد وکړم؟ ما سره نه د درمند خوراک شته او نهٔ د انګورو د لنګرۍ نه مے
شته؟ ۲۸ ستا مسئله څهٔ ده؟“ هغې ورته ووئيل، ”هغه بله ورځ دې ښځې ما ته ووئيل چې مونږ به زما بچے وخورو او بيا
بله ورځ به د هغې بچے وخورو. ۲۹ نو مونږ زما زوئ پوخ کړو او ومو خوړو. په وربسې ورځ ما هغې ته ووئيل چې مونږ به
د هغې زوئ وخورو، خو هغې پټ کړو.“ ۳۰ چې دا يې واورېدل، نو بادشاه د خفګان نه خپلې جامې وشلولې او چې کوم
خلق د دېوال سره نزدې وُو نو هغوئ وليدل چې هغهٔ د خپلو جامو لاندې د ټاټ جامې اغوستې وې. ۳۱ هغهٔ ووئيل، ”کهٔ نن
ورځ د اليشع سر د بدن نه لرې نهٔ شی نو خُدائ پاک دې ما د ورځې د ختمېدو سره ووژنی.“ ۳۲ نو هغهٔ يو پيغام وړونکے
ولېږلو چې اليشع راولی. اليشع په کور کښې د يو څو مشرانو سره ملاقات کولو. د بادشاه پيغام وړُونکی د رارسېدو نه
مخکښې، اليشع مشرانو ته وفرمائيل، ”هغه قاتِل زما د وژلو دپاره څوک رالېږلے دے. نو چې کله هغه دلته راورسيږی، نو
دروازه بنده کړئ او دننه يې مهٔ راپرېږدئ. بادشاه به په خپله په هغهٔ پسې وی.“ ۳۳ نو هغهٔ لا خبرې ختمې کړې نهٔ وې، چې
بادشاه راورسېدو او وې وئيل، ”دا مصيبت د مالِک خُدائ نه په مونږ باندې راغلے دے. زهٔ دې نور د مالِک خُدائ په طمع
کښې ولې پاتې شم؟“

۷ ۱ بيا اليشع ورته وفرمائيل، ”د مالِک خُدائ کلام ته غوږ ونيسه. مالِک خُدائ داسې فرمائی، سبا دا وخت به د سپينو
زرو په يوه سيکه باندې درې کلو ښهٔ اوړهٔ يا شپږ کلو اوربشې د سامريه د دروازې خولې سره خرڅولے شی.“ ۲ نو د
بادشاه خاص آفسر اليشع ته ووئيل، ”کهٔ مالِک خُدائ د آسمان نه د غلو دانو د باران دروازې کولاو کړے هم وے، نو دا
کار به ونهٔ شی.“ اليشع ورته وفرمائيل، ”دا به تهٔ په خپلو سترګو ووينې، خو تهٔ به ترې نه هيڅ هم ونهٔ خورې.“

### د شام د فوجيانو تلل

۳ په هغه وخت کښې د ښار د دروازې د خولې سره د جذام د بيمارۍ څلور سړی وُو او هغوئ يو بل ته ووئيل، ”مونږ دې
تر مرګه پورې دلته ولې ناست يُو؟ ۴ ښار ته د ننوتلو فائده نشته، دننه به د لوږې نه مړهٔ شُو، خو کهٔ مونږ دلته ناست يُو،
نو بيا به هم مړهٔ شُو. نو راځئ چې د شاميانو کېمپ ته لاړ شُو، کهٔ هغوئ زمونږ ژوند بچ کړو، نو ژوندی خو به يُو کهٔ نه، خو
کهٔ ومو وژنی، نو مرو خو هسې هم.“ ۵ نو په ماښامی کښې هغوئ پاڅېدل او د شاميانو کېمپ ته لاړل، خو چې کله هغوئ
ورورسېدل، نو هلته هيڅ څوک هم نهٔ وُو. ۶ مالِک خُدائ د شاميانو په فوج باندې د جنګی ګاډو، آسونو او د يو لوئ فوج
آوازونه اورولی وُو، نو شاميانو يو بل ته ووئيل، ”د اِسرائيل بادشاه، حِتيان او د مِصر بادشاهان او د هغوئ فوجيان د حملې
دپاره په پېسو نيولی دی.“ ۷ نو په هغه ماښام شاميان د خپل ژوند بچ کولو دپاره تښتېدلی وُو، خپلې خېمې، آسونه، خرهٔ
او خپل کېمپونه يې هم داسې پرېښی وُو. ۸ کله چې هغه څلور سړی د خېمو غاړې ته ورسېدل، نو هغوئ يوې خېمې ته
ورننه شول، هلته چې څهٔ وُو نو هغه يې وخوړل او وې څښل، چې کوم سپين زر، سرهٔ زر او جامې يې ومونډلې نو هغه يې
يوړل او پټ يې کړل، هغوئ بيا راغلل، يوې بلې خېمې ته ورننه شول او هم هغه شان يې وکړل. ۹ خو بيا هغوئ يو بل ته
ووئيل، ”دا کار صحيح نهٔ دے. مونږ سره ښهٔ زېرے دے او مونږ له دا د ځان سره ساتل نهٔ دی په کار. کهٔ مونږ تر سبا
پورې د دې د وئيلو اِنتظار وکړو، نو سزا به راته مِلاو شی. راځئ چې لاړ شُو او د بادشاه آفسران خبر کړُو.“ ۱۰ نو هغوئ
د شاميانو د کېمپ نه روان شول، واپس سامريه ته لاړل او د دروازو سېنتريانو ته يې آواز وکړو، ”مونږ د شاميانو خېمو ته

تلې وُو خو نۀ مو د چا آواز واورېدو او نۀ مو څوک وليدل، آسونه او خرۀ ترلی پاتې وُو او خېمې هم هغه شان روغې ولاړې
وې.“ ۱۱ نو سپېنتريانو د دې خبر اِعلان وکړو او دا خبر محل ته ورسېدو. ۱۲ خو بادشاه د شپې د کټ نه پاڅېدو او خپلو
آفسرانو ته يې ووئيل، ”زۀ به تاسو ته ووايم چې شاميانو زمونږ خِلاف څۀ منصوبه جوړه کړې ده. هغوئ ته زمونږ د قحط پته
ده، نو هغوئ ځکه خپلې خېمې پرېښې دی او پټو ته د پټېدو دپاره تلی دی. د هغوئ خيال دا دے چې کله مونږ د خوراک
دپاره د ښار نه لاړ شُو، نو هغوئ به مونږ ژوندی ونيسی او ښار به قبضه کړی.“ ۱۳ د هغۀ يو آفسر ورته ووئيل، ”په دې
ښار کښې خلق هسې هم مرګِ حال دی. نو په تاسو کښې دې څۀ کسان پينځۀ آسونه د پاتې شوی آسونو نه خوښ کړئ او
لاړ دې شی. کۀ په دوئ څۀ چل وشو، نو پرواه نۀ کوی ځکه کۀ دلته وے نو هم به مونږ سره مړۀ شی. ګنې مونږ ته خو به دا
پته ولګی چې څۀ چل دے.“ ۱۴ نو هغوئ سړی خوښ کړل او بادشاه هغوئ په دوو جنګی ګاډو کښې ولېږل چې لاړ شئ
او دا معلوم کړئ چې په شامی فوج باندې څۀ شوی دی. ۱۵ چې هغه سړی د اُردن پورې ورپسې لاړل، نو هغوئ په ټوله لار
باندې هغه جامې او سامان وليدو چې د شاميانو نه په تېښته کښې پاتې شوے وو. بيا هغوئ راواپس شول او بادشاه يې خبر
کړو. ۱۶ د سامريه خلق راووتل او د شاميانو خېمې يې لوټ کړې. او لکه چې څنګه مالِک خُدائ فرمائيلی وُو، د سپينو
زرو په يوه سيکه باندې درې کلو ښۀ اوړۀ يا شپږ کلو اوربشې خرڅېدلې. ۱۷ نو داسې وشول چې د اِسرائيل بادشاه خپل
خاص آفسر ته د ښار د دروازې ذمه واری په حواله کړې وه. هغه آفسر هلته د خلقو د پښو لاندې شو او مړ شو، لکه څنګه
چې اليشع په هغه وخت کښې پېشګوئې کړې وه چې بادشاه هغۀ سره مِلاوېدو له تلے وو. ۱۸ اليشع په هغه وخت بادشاه
ته فرمائيلی وُو چې سبا دا وخت به په سامريه کښې درې کلو ښۀ غنم يا شپږ کلو اوربشې د سپينو زرو په يوه سيکه باندې
خرڅيږی، ۱۹ او آفسر اليشع ته په جواب کښې وئيلی وُو، ”کۀ مالِک خُدائ د آسمان د باران دروازې کولاو کړے هم وے،
نو دا کار به ونۀ شی.“ او اليشع ورته فرمائيلی وُو، ”دا به تۀ په خپلو سترګو ووينې، خو تۀ به هيڅ هم ترې نه ونۀ خورې.“
۲۰ نو د هغۀ سره هم دغه شان وشول، هغۀ د ښار د دروازې سره د خلقو د پښو لاندې شو او مړ شو.

## د ښځې د شونيم نه راواپس کېدل

8 ۱ نو اليشع هغه ښځې له مشوره ورکړه چې د هغې زوئ يې راژوندے کړے وو، او ورته يې وفرمائيل چې، ”تۀ او ستا
خاندان لاړ شئ او په بل ځائ کښې اوسېږئ، ځکه چې مالِک خُدائ فرمائيلی دی چې په دې مُلک کښې به اووۀ کاله قحط
وی.“ ۲ نو هغه ښځې هم هغه شان وکړل چې څنګه د خُدائ پاک خِدمتګار مشوره ورکړې وه. هغې خپل خاندان بوتلو او
اووۀ کاله د فلستيه په مُلک کښې اوسېدل. ۳ د اوؤم کال په ختمېدو، هغه واپس اِسرائيل ته راغله او بادشاه له لاړه چې
مِنت ورته وکړی چې خپله زمکه او کور ورته واپس مِلاو شی. ۴ هغې وليدل چې بادشاه د اليشع نوکر جيحازی سره
خبرې کولې، بادشاه غوښتل چې د اليشع په لويو معجزو باندې پوهه شی. ۵ کله چې جيحازی بادشاه ته وئيل چې اليشع
يو مړے راژوندے کړے وو، نو هغه ښځې بادشاه ته عرض وکړو. جيحازی هغۀ ته ووئيل، ”بادشاه سلامت، هغه ښځه دا ده
او دا يې زوئ دے چې اليشع راژوندے کړے وو.“ ۶ بادشاه ښځې ته ووئيل چې خپله قيصه بيان کړه، چې څۀ شوی وُو
نو هغې ورته بيان کړل. بادشاه يو آفسر راوغوښتو او ورته يې ووئيل چې، ”هغې له خپل هر څۀ واپس ورکړه، سره د هغې د
زمکې د اووۀ کالو آمدن.“

## اليشع او د شام بادشاه بِن‌حدد

۷ اليشع په هغه وخت دمشق ته لاړو چې د شام بادشاه بِن‌حدد بيمار وو. نو چې بادشاه خبر شو چې اليشع هلته دے،

۸ نو هغهٔ خپل یو آفسر حِزائیل ته ووئیل، ”هغه پېغمبر له یوه تُحفه یوسه او هغهٔ ته ووایه چې د مالِک خُدائ نه تپوس
وکړی چې زهٔ به د دې بیمارئ نه ښهٔ شم او کهٔ نه.“ ۹ نو حِزائیل په څلوېښتو اوښانو باندې د دمشق ښهٔ څیزونه بار کړل
او الیشع له لاړو. کله چې حِزائیل ورسره مِلاو شو نو ورته یې ووئیل، ”ستا خِدمتګار بِن‌حدد بادشاه زهٔ د دې تپوس دپاره
رالېږلے یم چې هغه به د خپلې بیمارئ نه ښهٔ شی او کهٔ نه.“ ۱۰ الیشع ورته وفرمائیل، ”مالِک خُدائ ما ته دا څرګنده کړې
ده چې هغه به مړ شی، خو هغهٔ له لاړ شه او ورته ووایه چې هغه به روغ شی.“ ۱۱ الیشع ورته نېغ نېغ کتل او سترګې یې
ترې نه نهٔ اړولې چې خزائیل وشرمېدو نو د خُدائ پاک خِدمتګار په ژړا شروع وکړه. ۱۲ حِزائیل ترې نه تپوس وکړو، ”زما
صاحِبه ولې ژاړې؟“ الیشع ورته وفرمائیل، ”ما ته د هغه بدو پته ده چې تهٔ به یې د اِسرائیلیانو سره کوې، تهٔ به د هغوئ قلعې
وسوزوې، د هغوئ زلمی به په تُوره ووژنې، د هغوئ بچی به ټوټې ټوټې کړې او د هغوئ د اُمیدوارو ښځو خېټې به وشلوې.“
۱۳ حِزائیل ورته ووئیل، ”زما په شان یو معمولی انسان دومره غټ کار څنګه کولے شی؟“ الیشع ورته وفرمائیل، ”مالِک
خُدائ ما ته ښودلی دی چې تهٔ به د شام بادشاه شې.“ ۱۴ خزائیل بِن‌حدد له لاړو، بِن‌حدد ترې نه تپوس وکړو، ”الیشع څهٔ
وفرمائیل؟“ حِزائیل ورته ووئیل، ”هغهٔ ما ته ووئیل چې تهٔ به روغ جوړ شې.“ ۱۵ خو په ورپسې ورځ خزائیل یوه کمبله
واخسته، په اوبو کښې یې لمده کړه او د بادشاه په مخ باندې یې واچوله، ساه یې ورله بنده کړه او مړ شو. او حِزائیل د
بِن‌حدد نه پس د شام بادشاه شو.

## د یهوداه بادشاه یهورام

۱۶ د اِسرائیل د بادشاه د اخی‌اب زوئ یورام د بادشاهئ په پینځم کال، د یهوسفط زوئ یهورام د یهوداه بادشاه شو ۱۷
چې عُمر یې دوه دېرش کاله وو او هغهٔ په یروشلم باندې اتهٔ کاله بادشاهی وکړه. ۱۸ هغهٔ د اخی‌اب لور وادهٔ کړه او د
اخی‌اب د خاندان په شان هغه هم د اِسرائیل د بادشاهانو په شان په غلطو لارو روان وو. هغهٔ د مالِک خُدائ په نظر کښې بد
وکړل، ۱۹ خو مالِک خُدائ نهٔ غوښتل چې یهوداه تباه کړی، ځکه چې هغهٔ د خپل خِدمت کوونکی داؤد سره لوظ کړے وو
چې د هغهٔ د اولاد ځلېدونکې بادشاهی به د همېشه دپاره وی. ۲۰ د یهورام په بادشاهئ کښې ادوم د یهوداه خِلاف بغاوت
وکړو او یو خپل بادشاه یې جوړ کړو. ۲۱ نو یهورام د خپلو ټولو جنګی ګاډو سره صعیر ته روان شو، چې هلته ادومی
فوجیانو هغوئ محاصره کړل. د شپې هغهٔ او د هغهٔ د جنګی ګاډو مشرانو محاصره ماته کړه او وتښتېدل او د هغهٔ فوجیان
خپلو کورونو ته واپس شول. ۲۲ نو د یهوداه ادوم تر اوسه پورې آزاد دے. هم په دې دوران کښې د لِبناه ښار هم بغاوت
وکړو. ۲۳ یهورام چې نور هر څهٔ هم کړی وُو هغه د یهوداه د بادشاهانو د تاریخ په کِتاب کښې لیکلے شوی دی. ۲۴
یهورام مړ شو او د داؤد په ښار کښې په شاهی ادیره کښې ښخ شو او د هغهٔ زوئ اخزیاه د هغهٔ نه پس بادشاه شو.

## د یهوداه بادشاه اخزیاه

۲۵ د اِسرائیل بادشاه د اخی‌اب زوئ یورام د بادشاهئ په دولسم کال، د یهورام زوئ اخزیاه د یهوداه بادشاه شو ۲۶ چې
عُمر یې دوویشت کاله وو او هغهٔ یو کال په یروشلم باندې بادشاهی وکړه. د هغهٔ د مور عتلیاه نوم وو، چې د اخی‌اب بادشاه
لور او د اِسرائیل بادشاه عُمری نمسئ وه. ۲۷ هغه هم د اخی‌اب د خاندان په لار روان وو او هغه څهٔ یې کول چې د مالِک
خُدائ په نظر کښې بد وُو، لکه څنګه چې د اخی‌اب خاندان کړی وُو، ځکه چې هغه د اخی‌اب د خاندان وو. ۲۸ اخزیاه
بادشاه د اِسرائیل د بادشاه یورام په یو جنګ کښې ملګرتیا وکړه چې دا جنګ د شام د حِزائیل خِلاف وو. فوجونه په
رامات‌جِلعاد کښې وجنګېدل او یورام په جنګ کښې زخمی شو. ۲۹ هغه د یزرعیل ښار ته راواپس شو چې زخمونه یې روغ

شی او اخزیاه هلته د مِلاوېدو دپاره ورَغلو.

## یاهُو د اِسرائیل بادشاه مقرر کېدل

۹ ۱ په دې دوران کښې الیشع پېغمبر د پېغمبرانو د قبیلې یو کس راوغوښتو او هغهٔ ته یې وفرمائیل، ”ملا وتړه او
راماتجِلعاد ته لاړ شه. د زیتُونو د تېلو دا لوښے ځان سره یوسه، ۲ او چې کله تهٔ هلته ورسېږې نو د نِمسی نمسے او د
یهوسفط زوئ یاهُو ولټوه. او هغه د خپلو ملګرو نه یو کوټې ته بوځه، ۳ د لوښی دا تېل د هغهٔ په سر باندې واچوه او ورته
ووایه چې مالِک خُدائ دا اِعلان کوی چې هغه تا د اِسرائیل بادشاه مقرروی. بیا دروازه کولاو کړه او زر زر وتښته.“ ۴ نو
هغه زلمے پېغمبر راماتجِلعاد ته لاړو، ۵ هلته یې د فوج آفسران ولیدل چې راغونډ وُو. هغهٔ وفرمائیل، ”صاحِبه، ما سره
ستا دپاره یو پېغام دے.“ یاهُو ورته ووئیل، ”تهٔ په مونږ کښې چا ته وائې؟“ نو هغهٔ ورته وفرمائیل، ”د فوج مشره، تا ته وایم.“
۶ نو هغوئ دواړه دننه لاړل او هغه زلمی پېغمبر د یاهُو سر د زیتُونو په تېلو غوړ کړو او ورته یې وفرمائیل، ”مالِک خُدائ
د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک دا اِعلان کوی چې زهٔ تا په خپلو خلقو اِسرائیل باندې بادشاه مقرروم. ۷ تهٔ به د خپل نېک د
اخی‌اب کورنئ تباه کوې، نو داسې به زهٔ ایزبل له سزا ورکړم ځکه چې هغې زما پېغمبران او زما نور خِدمت کوونکی وژلی
وُو. ۸ د اخی‌اب مکمل خاندان او اولاد به مری، زهٔ به د هغهٔ په خاندان کښې هر یو نارینه ختم کړم، کهٔ هغه بوډا وی او
کهٔ ځوان وی. ۹ زهٔ به د هغهٔ د خاندان سره هم هغه شان سلوک وکړم لکه څنګه سلوک مې چې د اِسرائیل د بادشاهانو د
نباط زوئ یربعام او د اخیاه زوئ بعشا سره کړے وو. ۱۰ ایزبل به هیڅ څوک نهٔ ښخوی، او د یزرعیل په علاقه کښې به
سپی د هغې لاش وخوری.“ بیا هغه ځوان پېغمبر دروازه کولاو کړه او منډه یې کړه. ۱۱ یاهُو خپلو ملګرو آفسرانو له واپس
لاړو، چې هغوئ ترې نه تپوس وکړو، ”خېر خو دے؟ هغه لیونے تا له د څهٔ دپاره راغلے وو؟“ یاهُو ورته ووئیل، ”تاسو ته
پته ده چې هغه څنګه سړے دے او څنګه خبرې کوی.“ ۱۲ هغوئ ورته ووئیل، ”مونږ ته رښتیا خبره وکړه چې هغهٔ څهٔ
وفرمائیل.“ نو هغهٔ جواب ورکړو چې، ”هغهٔ ما ته وفرمائیل چې، مالِک خُدائ اِعلان کوی چې تا زهٔ د اِسرائیل بادشاه
مقرروم.“ ۱۳ نو سمدستی د یاهُو ملګرو آفسرانو خپلې چُوغې د پوړئ دپاسه خورې کړې چې یاهُو ورباندې ودرېږی،
بیګلې یې وغږولې او چغه یې کړه، ”یاهُو بادشاه دے.“

## د اِسرائیل د بادشاه یورام قتل

۱۴-۱۵ بیا یاهُو د یورام بادشاه خِلاف منصوبه جوړه کړه، چې هغه په یزرعیل کښې وو، چې هلته د دې دپاره تلے وو چې
هغه زخمونه یې روغ شی چې هغه د شام بادشاه حزائیل خِلاف په جنګ کښې زخمی شوے وو. نو یاهُو خپلو ملګرو آفسرانو
ته ووئیل، ”کهٔ تاسو زما ملګرتیا کوئ، نو چې هیڅ څوک هم د راماتجِلعاد نه ونهٔ تښتئ چې په یزرعیل کښې خلق خبر
کړئ.“ ۱۶ بیا هغه په خپله جنګی ګاډئ کښې سور شو او یزرعیل ته روان شو. یورام تر اوسه پورې روغ شوے نهٔ وو او د
یهوداه بادشاه اخزیاه د هغهٔ تپوس له ورغلے وو. ۱۷ په یزرعیل کښې د څوکیدارئ په برج کښې یو محافظ وو چې هغهٔ
یاهُو او د هغهٔ فوجیان ولیدل چې راروان وُو. هغهٔ چغه کړه، ”ما یو څو سړی ولیدل چې راروان دی.“ یورام ورته ووئیل، ”په
آس سور یو سړے ورولېږه چې دا معلوم کړی چې خبر خو دے.“ ۱۸ پېغام وړونکے یاهُو له ورَغلو او ورته یې ووئیل،
”بادشاه معلومول غواړی چې خبر خو دے څنګه راغلے یئ؟“ یاهُو ورته ووئیل، ”تاسو په خبر څهٔ کوئ؟ ما پسې راځه.“
محافظ دا خبر ورکړو چې پېغام وړونکے هغه قبیلې ته رسېدلے دے خو واپس رانهٔ غلو. ۱۹ نو بادشاه په آس سور دوېم
سړے ورولېږلو. کله چې هغه هغوئ له ورَغلو نو ورته یې ووئیل، ”بادشاه داسې وائی، خبر خو دے څنګه راغلے یې؟“ یاهُو

ورته ووئيل، "تاسو په خبر څۀ کوئ؟ ما پسې راځه." ۲۰ محافظ يو ځل بيا خبر ولېږلو چې پېغام وړونکے هغه قبيلې ته رسېدلے دے خو واپس رانۀ غلو. او هغۀ دا هم ووئيل، "هغه خپله جنگی گاډئ د ليونی په شان چلوی، لکه چې ياهُو وی."
۲۱ يورام بادشاه حُکم وکړو، "زما جنگی گاډئ تياره کړئ." نو هغوئ تياره کړه او هغه او اخزياه بادشاه روان شول، دواړه د ياهُو سره مِلاوېدو دپاره په خپله خپله جنگی گاډئ کښې سوارۀ وُو او د نبوت په پټی کښې ورسره مِلاو شول. ۲۲ يورام ترې نه تپوس وکړو، "خېر خو دے څنگه راغلې؟" ياهُو ورته ووئيل، "خېر به څنگه وی، چې په مونږ کښې هغه کوډې او بُت پرستی موجوده وی چې ستا مور ايزبل شروع کړې دی؟" ۲۳ يورام چغه کړه، "اخزياه، دا سازش دے." نو هغۀ سمدستی خپله جنگی گاډئ راتاو کړه او هغه روان شو چې وتښتی. ۲۴ ياهُو خپله لينده راوويسته او پوره يې راښکله او د يورام د ولو مينځ يې په غشی وويشتو او د هغۀ زړۀ يې سورے کړو. يورام په خپله جنگی گاډئ کښې مړ پرېوتو، ۲۵ او ياهُو خپل آفسر بِدقر ته ووئيل، "د هغۀ لاش اوچت کړه او په هغه پټی کښې يې وغورزوه چې د نبوت دے. هغه راپه ياد کړه چې کله تۀ او زۀ د يورام بادشاه پلار اخئاب پسې روان وُو، نو مالِک خُدائ د اخئاب خِلاف دا کلام وکړو، ۲۶ ما د نبوت او د هغۀ د زامنو قتل پرون وليدو. زۀ دا قسم کوم چې زۀ به تا له هم په دې پټی کښې سزا درکړم." نو ياهُو خپل آفسر له حُکم ورکړو چې، "د يورام لاش اوچت کړه او په هغه پټی کښې يې واچوه چې کوم د نبوت دے، نو چې د مالِک خُدائ قسم پوره شی."

## د يهوداه بادشاه اخزياه وژل

۲۷ اخزياه خبر شو چې څۀ شوی وُو، نو هغه په خپله جنگی گاډئ کښې د بيت‌هگان ښار طرف ته وتښتېدو او ياهُو وريسې وو. ياهُو خپلو سړو له حُکم ورکړو، "دے هم ووژنئ." او چې کله هغۀ د ابليعام ښار سره نزدې جور ته خپله جنگی گاډئ روانه کړې وه نو هغه يې زخمی کړو، خو تر هغې پورې روان وو چې د مِجدو ښار ته ورسېدو او هلته مړ شو. ۲۸ د هغۀ خپلو آفسرانو د هغۀ لاش په جنگی گاډئ کښې واپس يروشلم ته يوړو او د داؤد په ښار کښې په شاهی اديره کښې يې ښخ کړو. ۲۹ اخزياه د اخئاب د زوئ يورام د بادشاهۍ په يوولسم کال د يهوداه بادشاه جوړ شوے وو.

## د مَلِکه ايزبل وژلے کېدل

۳۰ ياهُو يزرعيل ته ورسېدو. نو چې ايزبل خبر شوه، نو رانجۀ يې پورې کړل، وېښتۀ يې سم کړل او په محل کښې د يوې کړکۍ سره ودرېده او بهر يې کتل. ۳۱ څنگه چې ياهُو دروازې ته راورسېدو، نو هغې ورته آواز وکړو، "تۀ د زِمری په شان يې، تۀ د خپل نبک قاتِل يې، تۀ څنگه دلته په خېر سره راغلې؟" ۳۲ ياهُو بره وکتل او چغه يې کړه، "زما ملگرتيا څوک کوی؟" دوو يا دريو خصيانو هغۀ ته لاندې وکتل، ۳۳ او ياهُو هغوئ ته ووئيل، "هغه لاندې راوغورزوئ." نو هغوئ هغه لاندې راوغورزوله او آسونو د هغې لاش د پښو لاندې کړو او د هغې په وينو باندې دېوال او آسونه لت پت شول. ۳۴ بيا ياهُو لاړو او د خوراک څښاک نه پس هغۀ ووئيل، "دا لعنتی ښځه بوځئ او ښخه يې کړئ، کۀ څۀ هم وی خو د بادشاه لور خو ده کنه." ۳۵ خو چې سړی د هغې ښخېدلو له ورغلل نو هغوئ د هغې کوپړۍ، پښو او د هغې د لاسونو نه بغير هيڅ هم ونۀ موندل. ۳۶ کله چې هغوئ ياهُو د دې نه خبر کړو، نو هغۀ ووئيل، "دا هغه څۀ دی چې مالِک خُدائ فرمائيلی وُو چې داسې به کيږی، کله چې هغۀ د خپل خِدمت کوونکی الياس په ذريعه دا کلام کړے وو يعنې، د يزرعيل په علاقه کښې به سپی د ايزبل لاش وخوری. ۳۷ د ايزبل لاش د يزرعيل په مُلک کښې په يو پټی کښې به په زمکه باندې د سوټو په شان خور ورو پروت وی او څوک به هم نۀ وی چې هغه وپېژنی."

## د اخی‌اب د اولاد وژلے کېدل

۱۰ ۱ د اخی‌اب بادشاه اویا زامن د سامریه په ښار کښې اوسېدل. یاهُو یو خط ولیکلو او د ښار حکمرانانو، د ښار مشرانو او د اخی‌اب د اولاد مشرانو له یې د دې نقلونه ولېږل. په خط کښې دا وئیلی شوی وُو، ۲ ”تاسو د بادشاه د زامنو مشران یئ او ستاسو حِفاظت د جنګی ګاډو، آسونو، وسلو او د پَخو دېوالونو د ښارونو سره کیږی. چې څنګه تاسو ته دا خط مِلاو شی، ۳ نو تاسو د بادشاه د زامنو نه یو ښهٔ کس خوښ کړئ، هغه بادشاه جوړ کړئ او د هغهٔ د حِفاظت دپاره جنګ کوئ.“ ۴ د سامریه حکمرانان وېرېدل. هغوئ ووئیل، ”یورام بادشاه او اخزیاه بادشاه چې د یاهُو مخالفت نهٔ شو کولے نو مونږ د هغهٔ مخالفت څنګه وکړُو؟“ ۵ نو د محل آفسر او د ښار آفسر، سره د ښار د مشرانو او د بادشاه د زامنو محافظانو، یاهُو له دا پېغام ولېږلو، ”مونږ ستا خِدمت کوونکی یُو او چې ته څهٔ وائې نو هغې ته تیار یُو. خو مونږ د هیچا نه هم بادشاه نهٔ جوړوُو، چې څهٔ تا ته ښهٔ ښکاری نو هم هغه وکړه.“ ۶ یاهُو هغوئ ته یو بل خط ولیکلو، ”کهٔ تاسو زما ملګرتیا کوئ او زما حُکمونو منلو ته تیار یئ، نو سبا دا وخت په یزرعیل کښې د اخی‌اب بادشاه د زامنو سرونه ما له راوړئ.“ د اخی‌اب بادشاه اویا زامن د سامریه ښار د مشرانو د حِفاظت لاندې لوئ شول. ۷ چې کله د یاهُو خط راورسېدو، نو د سامریه مشرانو د اخی‌اب هغه اویا واړه زامن ووژل، د هغوئ سرونه یې په ټوکرو کښې واچول او په یزرعیل کښې یې یاهُو له ولېږل. ۸ کله چې یاهُو خبر شو چې د اخی‌اب د زامنو سرونه راوړے شوی دی، نو هغهٔ حُکم ورکړو چې د دې نه د ښار د دروازې په خولهٔ کښې دوه ډېری جوړ کړئ او تر سحر پورې دې هلته پرېښودلے شی. ۹ په سحر کښې، هغه د ښار دروازې له لاړو او چې کوم خلق هلته وُو نو هغوئ ته یې ووئیل، ”زهٔ هغه څوک یم چا چې د یورام بادشاه خِلاف منصوبه جوړه کړه او هغه یې ووژلو، تاسو د هغې ذمه وار نهٔ یئ. خو دا ټول چا ووژل؟ ۱۰ تاسو یقین وکړئ چې د مالِک خُدائ کوم پېغام د اخی‌اب د خاندان په حقله بیان شوے وو هغه به نهٔ ناکام کیږی. مالِک خُدائ د خپل خِدمت کوونکی الیاس په ذریعه دا اِعلان کړے وو چې داسې به کیږی.“ ۱۱ بیا یاهُو د اخی‌اب نور ټول خپلوان ووژل چې کوم په یزرعیل کښې اوسېدل او د هغهٔ ټول آفسران، نزدې ملګری او اِمامان هم، د هغوئ نه یو کس هم ژوندے پاتې نهٔ شو.

## د اخزیاه بادشاه د خپلوانو وژلے کېدل

۱۲ یاهُو سامریه ته روان شو. په لار کښې، د هغه ځائ سره چې نوم یې ”د شپانو ځائ“ وو، ۱۳ هغه د یهوداه د مړ بادشاه اخزیاه د یو څو خپلوانو سره مِلاو شو او د هغوئ نه یې تپوس وکړو، ”تاسو څوک یئ؟“ هغوئ ورته ووئیل، ”مونږ د اخزیاه خپلوان یُو، مونږ یزرعیل ته روان یُو چې د مَلِکه ایزبل او د شاهی خاندان د نورو کسانو درناوے وکړُو.“ ۱۴ یاهُو خپلو سړو له حُکم ورکړو، ”هغوئ ژوندی ونیسئ.“ نو هغوئ یې ونیول او هغوئ یې هلته د یوې کندې سره نزدې ووژل. هغوئ ټول دوه څلوېښت کسان وُو او د هغوئ نه یو کس هم ژوندے پاتې نهٔ شو.

## د اخی‌اب د پاتې شوو ټولو خپلوانو وژلے کېدل

۱۵ یاهُو یو ځل بیا روان شو، په لار کښې هغه د ریکاب زوئ یوندب سره مِلاو شو. یاهُو ورباندې سلام واچولو او ورته یې ووئیل، ”تهٔ هم زما هغه شان وفادار یې لکه چې څنګه زهٔ ستا وفادار یم؟“ یوندب ورته ووئیل، ”آو، زهٔ ستا وفادار یم.“ یاهُو ورته ووئیل، ”کهٔ داسې وی نو ما له لاس راکړه.“ نو هغهٔ لاس ورکړو. یاهُو هغه د ځان سره خپلې جنګی ګاډۍ ته وخېژولو. ۱۶ او هغهٔ ورته ووئیل، ”ما سره لاړ شه او په خپله وګوره چې زهٔ د مالِک خُدائ څومره وفادار یم.“ او هغه یې په خپله جنګی ګاډۍ کښې بوتلو. ۱۷ کله چې هغوئ سامریه ته راغلل، نو یاهُو د اخی‌اب ټول پاتې شوی خپلوان ووژل، تر دې پورې

چې يو هم ژوندے پاتې نۀ شو، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ الياس ته کلام کړے وو.

## د بعل عبادت کوونکی وژلے کېدل

۱۸ ياهُو د سامريه ټول خلق راغونډ کړل او ورته يې ووئيل، "اخی‌اب بادشاه د بعل بُت لږ شان خِدمت کړے دے، خو زۀ
به يې د هغۀ نه هم زيات خِدمت وکړم. ۱۹ د بعل ټول پېغمبران، د هغۀ ټول عبادت کوونکی او ټول اِمامان راغونډ کړئ.
هيڅ څوک به غېر حاضر نۀ وی، زۀ بعل ته يوه لويه قربانی پېش کوم او چې څوک هم حاضر نۀ شی نو هغه به وژلے شی."
خو د ياهُو مطلب دا وو چې داسې به د بعل عبادت کوونکی ووژنی. ۲۰ بيا ياهُو اِعلان وکړو، "د بعل د درناوی دپاره د
عبادت د ورځې اِعلان وکړئ." نو اِعلان وشو، ۲۱ او ياهُو د اِسرائيل ټول مُلک ته دا خبر ولېږلو، او د بعل عبادت کوونکی
ټول راغلل نو يو کس هم پاتې نۀ شو چې غېر حاضر وی. هغوئ ټول د بعل عبادتخانې ته راغلل او د يو سر نه تر بل سره
پوره يې عبادتخانه ډکه کړه. ۲۲ بيا ياهُو د مقدسو چُوغو مشر اِمام له حُکم ورکړو چې چُوغې راوړه او عبادت کوونکو له
يې ورکړه. ۲۳ د هغې نه پس، ياهُو په خپله د ريکاب زوئ يوندب سره عبادتخانې ته دننه شو او خلقو ته يې هلته ووئيل،
"پام کوئ چې صِرف د بعل عبادت کوونکی حاضر وی او د مالِک خُدائ يو عبادت کوونکے هم نۀ وی رانوتلے." ۲۴ بيا
هغه او يوندب دننه لاړل چې بعل ته قربانۍ او سوزېدونکې نذرانې پېش کړی. هغۀ اتيا سړی د عبادتخانې نه بهر ودرولی وُو او
هغوئ ته يې وئيلی وُو، "تاسو به دا ټول خلق وژنئ، چې د چا نه يو کس هم وتښتی نو د هغۀ په سر کښې به هغه وژلے شی."
۲۵ چې څنګه ياهُو نذرانې پېش کړې، نو هغۀ څوکيدارانو او آفسرانو ته ووئيل، "دننه ورشئ او ټول ووژنئ، چې يو هم درنه
خلاص نۀ شی." هغوئ تُورې راويستلې او دننه لاړل، ټول يې ووژل او د هغوئ لاشونه يې بهر راښکل. بيا هغوئ د عبادتخانې
دننی ځائ ته لاړل، ۲۶ چې هلته کومه مقدسه ستنه وه هغه يې راوويستله او وې سوزوله. ۲۷ نو هغوئ د عبادت ستنه او
عبادتخانه تباه کړه او عبادتخانه په ټټی بدله شوه او تر نن ورځې پورې شته دے. ۲۸ نو ياهُو داسې د اِسرائيل نه د بعل
عبادت ختم کړو، ۲۹ خو هغۀ د يربعام بادشاه ګناه بنده نۀ کړه، چا چې اِسرائيليان د ګناه طرف ته بوتلی وُو چې هغوئ د
سرو زرو د هغه سخی عبادت وکړو چې هغۀ په بيت‌ايل او دان کښې لګولے وو. ۳۰ مالِک خُدائ ياهُو ته وفرمائيل، "تا د
اخی‌اب په اولاد باندې هم هغه څۀ وکړل چې ما درته فرمائيلی وُو. نو زۀ تا سره لوظ کوم چې ستا اولاد به تر څلورم نسل
پورې د اِسرائيل بادشاهان وی." ۳۱ خو ياهُو د زړۀ د اخلاصه د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک قانون نۀ منلو.
هغه د يربعام د هغه ګناهونو نه نۀ راګرځېدو، چې په بنی اِسرائيلو باندې يې کړی وُو.

## د ياهُو مرګ

۳۲ په هغه وخت کښې مالِک خُدائ د اِسرائيل د علاقې کمول شروع کړل. د شام بادشاه حِزائيل د اِسرائيل ټوله علاقه فتح
کړه ۳۳ د اُردن نمرخاتۀ طرف ته، د ارنون سيند په غاړه په جنوب کښې د عروعير ښار پورې، په دې کښې د جِلعاد او
بسن علاقې هم شاملې وې، چرته چې د جاد، روبين او نمرخاتۀ طرف ته منسی قبيلې اوسېدې. ۳۴ نور هر څۀ چې ياهُو
کړی وُو، سره د هغۀ د بهادرۍ د کارنامو، دا د اِسرائيل د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی. ۳۵ هغه مړ شو او په
سامريه کښې ښخ شو او د هغۀ زوئ يهوآخز د هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو. ۳۶ ياهُو په سامريه کښې اتۀويشت کاله
بادشاهی وکړه.

## د يهوداه مَلِکه عتلياه

١١ ١ ځنګه چې د اخزياه مور عتلياه د خپل زوئ د قتل نه خبر شوه، نو هغې ووئيل چې د شاهى خاندان ټول کسان
دې ووژلے شى. ٢ صِرف د اخزياه زوئ يوآس وتښتېدو. هغه هم د نورو سره وژلے کېدو، خو يهوسبع هغه بچ کړو،
يهوسبع د يهورام لور او د اخزياه ناسکه خور وه. هغې يوآس او د هغهٔ دائېنه د مالِک خُدائ په کور کښې د خوب کوټې ته
بوتلل او د عتلياه نه يې پټ کړو، نو هغه ونهٔ وژلے شو. ٣ شپږ کاله يهوسبع د هلک خيال ساتلو او د مالِک خُدائ په کور
کښې يې پټ کړے وو، چې په دې دوران کښې عتلياه مَلِکه وه. ٤ خو په اوؤم کال يهويدع اِمام د شاهى ځوکيدارانو او د
محل ځوکيدارانو مشران آفسران راوغوښتل او د مالِک خُدائ کور ته يې راوستل، چې هلته يې د هغوئ نه دا قسم واخستلو
چې د هغهٔ په منصوبه به عمل کوى. نو بيا هغهٔ ورته د اخزياه بادشاه زوئ يوآس وښودلو ٥ او هغوئ له يې دا حُکم
ورکړو، "کله چې تاسو د سبت په ورځ خپل کار له راشئ، نو ستاسو دريمه حِصه کسان به د محل ځوکيدارى کوى، ٦
بله دريمه حِصه به د صور په دروازه کښې د ځوکيدارئ ډيوټى ودرېږى او بله دريمه حِصه به د نورو ځوکيدارانو وروستو د
دروازې سره د ځوکيدارئ ډيوټى ودرېږى. ٧ هغه دواړه ډلې چې د سبت په ورځ يې چُټى وى نو هغه به د مالِک خُدائ په
کور د بادشاه د ځوکيدارئ ډيوټى ودرېږى. ٨ تاسو به د يوآس بادشاه نه ګېرچاپېره ولاړ يئ او تُورې به مو راويستلې وى
او چې چرته هم ځى نو ورسره ځئ. هر څوک چې تاسو له نزدې راځى نو هغه دې وژلے شى." ٩ آفسرانو د يهويدع په
خبرو عمل وکړو او هغوئ هغه سړى ورله راوستل چې د سبت په ورځ په چُټى تلل او چې کوم ځوکيدارئ له راتلل. ١٠
هغهٔ آفسرانو له هغه نېزې او ډالونه ورکړل کوم چې د داؤد بادشاه ؤو او چې د مالِک خُدائ په کور کښې ساتلے شوى ؤو،
١١ او هغهٔ د مالِک خُدائ د کور په مخکښې ګېرچاپېره د بادشاه د حِفاظت ډيوټه سړى ودرول چې تُورې يې په لاس کښې
وې. ١٢ بيا يهويدع يوآس بهر بوتلو، تاج يې وربه سر کړو او د بادشاهۍ کولو د قانون يو نقل يې ورله ورکړو. نو يوآس
مقرر کړے شو او اِعلان وشو چې هغه بادشاه دے. خلقو لاسونه وپړقول او چغه يې ووهله، "بادشاه زندهباد." ١٣ مَلِکه
عتلياه د ځوکيدارانو او خلقو شور واورېدو، نو هغه د مالِک خُدائ کور ته تېزه لاړه، چرته چې خلق راغونډ ؤو. ١٤ هلته
هغې هغه نوے بادشاه وليدو چې د رِواج په مطابق د ستنې سره د مالِک خُدائ د کور د دروازې په خولهٔ کښې ولاړ وو.
آفسران او بيګل غږوونکى د هغهٔ نه ګېرچاپېره تاو ؤو او ټولو خلقو د خوشحالۍ نه چغې وهلې او بيګلې يې غږولې. عتلياه د
خفګان نه خپلې جامې وشلولې او چغې يې ووهلې، "غدار، غدار." ١٥ يهويدع نهٔ غوښتل چې عتلياه د مالِک خُدائ د کور
سره ووژنى، نو هغهٔ فوجى آفسرانو له حُکم ورکړو، "هغه د ځوکيدارانو د صفونو په مينځ کښې وباسئ او هغه هر يو کس
ووژنئ چې د هغې د بچ کولو کوشش وکړى." ١٦ هغوئ هغه ونيوله، محل ته يې بوتله او هلته يې د آسونو د دروازې سره
ووژله.

## د يهويدع اِصلاحات کول

١٧ يهويدع اِمام د يوآس بادشاه او د خلقو نه د مالِک خُدائ په نوم يو لوظ واخستلو چې هغوئ به د مالِک خُدائ تابعدار
اوسى، هغهٔ د بادشاه او د خلقو په مينځ کښې هم يو لوظ وکړو. ١٨ بيا خلق د بعل عبادتخانې ته لاړل او راوې غورزوله،
هغوئ قربانګاه او بُتان ټوټې ټوټې کړل او د بعل اِمام متان يې د قربانګاه په مخکښې ووژلو. يهويدع د مالِک خُدائ په کور
باندې ځوکيداران ودرول، ١٩ او بيا هغهٔ، آفسرانو، شاهى ځوکيدارانو او د محل ځوکيدارانو بادشاه د مالِک خُدائ د کور
نه محل ته بوتلو، چې ټول خلق ورپسې روان ؤو. يوآس د ځوکيدارانو په دروازه ننوتلو او په تخت باندې په خپل ځائ
کښېناستو. ٢٠ ټول خلق خوشحاله ؤو او په ښار کښې امن وو، ځکه چې عتلياه په محل کښې وژلے شوې وه. ٢١ يوآس

د اوو کالو په عُمر کښې د يهوداه بادشاه شو.

## د يهوداه بادشاه يوآس

١٢ ١ د اِسرائيل د بادشاه ياهُو د بادشاهۍ په اوؤم کال، يوآس د يهوداه بادشاه شو او هغهٔ څلوېښت کاله په يروشلم
کښې بادشاهی وکړه. د هغهٔ مور ضِبياه د بيرسبع وه. ٢ هغهٔ ټول عُمر هغه کار کولو چې مالِک خُدائ پرې رضا کېدو،
ځکه چې يهويدع اِمام هغهٔ له دا مشوره ورکوله. ٣ خو علاقائی عبادتخانې نهٔ وې تباه شوی او خلقو بيا بيا هلته قربانۍ
پېش کولې او خوشبوئی سوزولې. ٤ يوآس اِمامان راوغوښتل او دا حُکم يې ورکړو چې هغه پېسې بچت کوئ چې د مالِک
خُدائ په کور کښې د مقدسو نذرانو، د هرې ورځې قربانۍ او د رضاکارانه نذرانو دپاره ورکولے شی. ٥ هر يو اِمام به
پېسې اخلی او د ضرورت په مطابق به يې د مالِک خُدائ د کور په مرمت کښې استعمالوی. ٦ خو د يوآس د بادشاهۍ په
درويشتم کال پورې هم اِمامانو د مالِک خُدائ په کور کښې څهٔ مرمت نهٔ وو کړے. ٧ نو هغهٔ يهويدع او نور اِمامان
راوغوښتل او د هغوئ نه يې تپوس وکړو، "تاسو د مالِک خُدائ کور ولې نهٔ دے مرمت کړے؟ تاسو به نورې پېسې نهٔ اخلئ.
د نن نه پس به دا صرف د مالِک خُدائ د کور په مرمت کښې استعمالولے شی." ٨ اِمامان دې ته راضی شول چې
هغوئ به د خلقو نه نورې پېسې نهٔ راغونډوی خو د مالِک خُدائ کور مرمت کولو ته يې هم غاړه ونهٔ نيوله. ٩ بيا يهويدع
يو صندوق واخستلو، د دې په سر کښې يې سورے وکړو او صندوق يې د قربانګاه ښی طرف ته کېښودو، چې د مالِک
خُدائ کور ته د ننوتو ځائ سره وو. خلقو چې کومه چنده ورکوله نو د ننوتو په ځائ کښې مقرر شوی اِمام به هغه ټوله په
صندوق کښې اچوله. ١٠ چې کله به هم په صندوق کښې ډېرې پېسې جمع شوې، نو شاهی منشی او مشر اِمام به راتلل،
هغه پېسې به يې وشمېرلې چې د مالِک خُدائ کور ته به راوړلے شوې وې او په کڅوړو کښې به يې واچولې. ١١ بيا به
هغوئ دا پېسې هغه سړو له ورکولې چې د مالِک خُدائ په کور کښې د کار ذمه وار وُو او هغوئ به ترې نه ترکاڼانو،
مِعمارانو، ١٢ ګِلکارانو او د کاڼو جوړوونکو له ورکولې، هغه لرګی او کاڼی به يې پرې اخستل چې په مرمت کښې
استعمالېدل او نور ټول ضروری څيزونه به يې پرې اخستل. ١٣ د سپينو زرو پيالو، جامونو، بيګلو، د ډيوو سرپوښونه، يا د
سرو زرو يا سپينو زرو نورو سامانونو دپاره څهٔ پېسې هم نهٔ وې استعمال شوې. ١٤ دا پېسې مزدورانو له ورکولے شوې
او د مرمت سامان ورباندې اخستلے شو. ١٥ ذمه وارو سړو په صداقت سره کار کولو، نو د پېسو د حِساب کِتاب
ضرورت نهٔ پېښېدو. ١٦ خو د ګناه د تاوان د نذرانو او د ګناه د نذرانو دپاره ورکړے شوې پېسې د مالِک خُدائ په کور
کښې نهٔ استعمالېدې، دا د اِمامانو وې. ١٧ په هغه وخت د شام بادشاه حِزائيل د جات په ښار باندې حمله وکړه او هغه يې
فتح کړو، بيا هغهٔ په يروشلم باندې د حملې کولو فېصله وکړه. ١٨ د يهوداه بادشاه يوآس هغه ټولې نذرانې واخستلې چې د
هغهٔ پلار نيکهٔ يهوسفط، يهورام او اخزياه مالِک خُدائ ته وقف کړې وې او د دې سره يې خپلې نذرانې او د مالِک خُدائ
کور او د محل د خزانو ټول سرهٔ زر يې هم ورسره يو ځائ کړل او دا هر څهٔ يې حِزائيل بادشاه له په تُحفه کښې ولېږل، نو
حزائيل بادشاه بيا خپل فوج د يروشلم نه واپس بوتلو. ١٩ يوآس بادشاه چې نور هر څهٔ هم کړی دی هغه د يهوداه د
بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی. ٢٠-٢١ د يوآس بادشاه آفسرانو د هغهٔ خِلاف منصوبه جوړه کړه او په هغوئ
کښې دوو کسانو يعنې د سماعت زوئ يوسکار او د شومير زوئ يهوزبد هغه په هغه کور کښې ووژلو چې په هغه لار باندې
جوړ وو چې د يروشلم نمرخاتهٔ طرف ته لاندې سِلا ته ځی. يوآس د داؤد په ښار کښې په شاهی اديره کښې ښخ شو او د هغهٔ
زوئ امصياه د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د اِسرائيل بادشاه يهوآخز

۱۳ ۱ د يهوداه بادشاه اخزياه زوئ يوآس د بادشاهۍ په درويشتم کال، د ياهُو زوئ يهوآخز د اِسرائيل بادشاه شو او
هغۀ په سامريه کښې اوولس کاله بادشاهى وکړه. ۲ هغۀ د يربعام بادشاه په شان د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه چا چې
اِسرائيليان د ګناه طرف ته بوتلى وُو، هغۀ هيڅکله خپل بد عملونه نۀ پرېښودل. ۳ نو مالِک خُدائ اِسرائيل ته غصه شو او
هغۀ د شام بادشاه حزائيل او د هغۀ زوئ بن‌حدد پرېښودل چې اِسرائيل له بار بار شکست ورکړى. ۴ نو يهوآخز مالِک
خُدائ ته سوال وکړو نو مالِک خُدائ د هغۀ سوال واورېدو، ځکه چې مالِک خُدائ ته پته وه چې د شام بادشاه د اِسرائيل
سره څومره سخت ظلم کوى. ۵ نو مالِک خُدائ اِسرائيلو له يو خلاصونکے راولېږلو، چې هغوئ يې د شاميانو نه آزاد
کړل، نو اِسرائيلو د مخکښې په شان په امن کښې ژوند تېرولو. ۶ خو هغوئ بيا هم هغه ګناهونه پرې نۀ ښودل چې يربعام
بادشاه اِسرائيليان هغې طرف ته بوتلى وُو او د اشيرې بُت ستنه په سامريه کښې پاتې شوه. ۷ د يهوآخز سره صرف
پنځوس په آسونو سوارۀ کسان، او لس جنګى ګاډى او لس زره پياده فوجيان پاتې وُو، ځکه چې د شام بادشاه د هغوئ نه
علاوه نور ټول لښکر تباه کړى وُو او سم غوبل يې ورباندې کړے وو. ۸ يهوآخز چې نور هر څۀ هم کړى وُو سره د هغۀ د
ټولو بهادرۍ کارونو، هر څۀ د اِسرائيل د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوى دى. ۹ هغه مړ شو او په سامريه کښې
ښخ شو او د هغۀ زوئ يهوآس د هغۀ نه پس بادشاه شو.

## د اِسرائيل بادشاه يهوآس

۱۰ د يهوداه بادشاه يوآس د بادشاهۍ په اووۀ دېرشم کال، د يهوآخز زوئ يهوآس د اِسرائيل بادشاه شو او هغۀ په سامريه
کښې شپاړس کاله حکومت وکړو. ۱۱ هغۀ هم د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه او يربعام د نباط زوئ د بدو لارو نه نۀ
اوړېدو، چا چې اِسرائيليان د ګناه طرف ته بوتلى وُو. ۱۲ نور هر څۀ چې يهوآس کړى وُو، سره د يهوداه بادشاه امصياه
خِلاف په جنګ کښې د هغۀ بهادرى، هغه د اِسرائيل د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوى دى. ۱۳ يهوآس مړ شو او د
سامريه په شاهى اديره کښې ښخ شو او د هغۀ زوئ بادشاه شو چې د هغۀ نوم هم يربعام وو.

## د اليشع مرګ

۱۴ اليشع پېغمبر په يوه سخته بيمارۍ بيمار شو او چې هغه مړ کېدو نو د اِسرائيل بادشاه يهوآس مِلاوېدو له ورَغلو او د
هغۀ د حالت په ليدو باندې يې ژړل. هغۀ چغې وهلې، ”زما پلاره، زما پلاره. تۀ د اِسرائيلو تکړه حِفاظت کوونکے وې.“ ۱۵
اليشع حُکم ورکړو، ”لينده او يو څو غشى واخله.“ نو يهوآس واخستل، ۱۶ او اليشع هغۀ ته وفرمائيل چې، ”د غشو ويشتلو
دپاره تيار شه.“ نو بادشاه هم هغه شان وکړل او اليشع خپل لاسونه د بادشاه په لاسونو کېښودل. ۱۷ نو د پېغمبر په خبرو
يې عمل وکړو، بادشاه هغه کړکۍ کولاو کړه چې د شام طرف ته وه. اليشع ورته وفرمائيل، ”غشے ووله.“ څنګه چې بادشاه
غشے وويشتو، نو پېغمبر وفرمائيل، ”تۀ د مالِک خُدائ غشے يې، په کوم باندې چې به شام فتح کړى. تۀ به په افيق کښې د
شاميانو سره تر هغې پورې جنګ کوې چې شکست ورکړې.“ ۱۸ بيا اليشع بادشاه ته وفرمائيل چې، ”نور غشى واخله او د
دې سره زمکه ووهه.“ نو بادشاه درې ځلې زمکه ووهله او بيا يې بس کړل. ۱۹ په دې باندې اليشع غصه شو او بادشاه ته
يې وفرمائيل، ”تا له په کار وُو چې پينځۀ شپږ ځلې دې وهلے، نو تا به په شاميانو باندې پوره فتح موندلے وے، خو اوس به
تۀ هغوئ له صِرف درې ځل شکست ورکړې.“ ۲۰ اليشع مړ شو او ښخ شو. هر کال به د سپرلى په موسم کښې د موآبيانو

لښکر د اِسرائيل په مُلک حمله کوله. ۲۱ يو وخت د يو سړی په جنازه کښې، ډاکوان وليدلے شو او دې خلقو د اليشع په
قبر باندې مړے وروغورزولو او وتښتېدل. نو چې څنګه لاش د اليشع د هډوکی سره ولګېدو، نو هغه کس راژوندے شو او
ودرېدو.

## د شام او اِسرائيل په مينځ کښې جنګ

۲۲ د يهوآخز په ټوله بادشاهۍ کښې د شام بادشاه حزائيل به په اِسرائيلو زياتے کولو، ۲۳ خو مالِک خُدائ په هغوئ
مهربان او رحم کوونکے وو. او هغوئ يې دې ته نۀ پرېښودل چې تباه شی، خو د هغه لوظ په وجه يې د هغوئ مدد کولو،
چې کوم يې د اِبراهيم، اِسحاق او يعقوب سره کړے وو. هغۀ هيڅکله خپل خلق نۀ هېرول. ۲۴ کله چې د شام بادشاه
حزائيل مړ شو نو د هغۀ زوئ بِن‌حدد بادشاه شو. ۲۵ بيا د اِسرائيل بادشاه يهوآس بِن‌حدد له درې ځله شکست ورکړو او
هغه ښارونه يې بيا قبضه کړل چې د يهوآخز د بادشاهۍ په دوران کښې بِن‌حدد نيولی وُو، يهوآخز د يهوآس پلار وو.

## د يهوداه بادشاه امصياه

۱۴ ۱ د اِسرائيل بادشاه د يهوآخز زوئ يهوآس د بادشاهۍ په دوېم کال، د يوآس زوئ امصياه د يهوداه بادشاه شو ۲
چې عُمر يې پينځويشت کاله وو او هغۀ په يروشلم کښې نهۀويشت کاله بادشاهی وکړه. د هغۀ مور يهوعدان د يروشلم وه.
۳ هغۀ هم هغه کار کولو چې مالِک خُدائ پرې رضا کېدو، خو د خپل پلار نيکۀ داؤد په شان نۀ وو، او هغه کارونه يې
کول چې څۀ د هغۀ پلار يوآس کړی وُو. ۴ هغۀ علاقائی عبادتخانې راونۀ غورزولې او خلقو هلته بيا هم قربانۍ او
سوزېدونکې خوشبوئی سوزوله. ۵ څنګه چې امصياه ته د بادشاهۍ ټول اختيار مِلاو شو، نو هغۀ هغه آفسران قتل کړل
چې د هغۀ پلار يعنې بادشاه يې وژلے وو. ۶ خو هغۀ د هغوئ بچی ونۀ وژل او په هغه څۀ يې عمل وکړو چې مالِک خُدائ
د موسیٰ په شريعت کښې فرمائيلی وُو، "مور او پلار دې د بچو د جرمونو په وجه نۀ شی وژلے او د مور پلار د جرمونو په
وجه دې د هغوئ بچی نۀ شی وژلے، يو کس دې صِرف د خپل جرم په وجه ووژلے شی." ۷ امصياه لس زره ادومی
فوجيان د مالګې په مېدان کښې ووژل، هغۀ په يو جنګ کښې د سلع ښار قبضه کړو او په دې باندې يې يقتی‌ايل نوم کېښودو
چې تر اوسه پورې يې هم دا نوم دے. ۸ بيا امصياه د اِسرائيل بادشاه يهوآس له پېغام ورُونکی ولېږل او ورته يې ووئيل
چې جنګ ته راوړاندې شه. ۹ خو يهوآس واپس دا جواب ورولېږلو، "يو ځل د لبنان په غرونو کښې د ازغو بوټی د دِيار
ونې له دا پېغام ولېږلو چې، زما زوئ له ستا لور ورکړه چې وادۀ يې کړی. يو ځنګلی ځناور هلته تېرېدو او د ازغو په بوټی
يې پښې کېښودې. ۱۰ نو امصياه، تا ادوميانو له شکست ورکړے دے او مغروره شوے يې. خو په خپل شُهرت باندې
ګزاره کوه او په کور کښې کښېنه. داسې بلا ولې راخبروې چې په تا او ستا په خلقو باندې تباهی راولی؟" ۱۱ خو امصياه
ورته غوږ نۀ نيولو، نو يهوآس بادشاه د خپلو سړو سره روان شو او په يهوداه کښې يې د بيت‌شمس سره د هغۀ خِلاف جنګ
وکړو. ۱۲ د امصياه لښکر شکست وخوړو او د هغۀ ټول فوجيان خپلو کورونو ته وتښتېدل. ۱۳ يهوآس امصياه ونيولو،
يروشلم ته وړاندې لاړو او د اِفرائيم د دروازې نه واخله د ګوټ دروازې پورې دېوال يې راغورزولو چې تقريباً دوه سوه ګزه
فاصله وه. ۱۴ هغۀ سپين زر، سرۀ زر او د مالِک خُدائ د کور ټول سامان او د محل ټولې خزانې يې واخستلې او واپس يې
سامريه ته يوړې. هغۀ د ځان سره قېديان هم بوتلل. ۱۵ نور هر څۀ چې يهوآس کړی وُو سره د يهوداه بادشاه د امصياه
خِلاف په جنګ کښې د هغۀ بهادری، دا د اِسرائيل د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی. ۱۶ يهوآس مړ شو او په
سامريه کښې په شاهی اديره کښې ښخ شو او د هغۀ زوئ يربعام د هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د یهوداه بادشاه امصیاه مرګ

۱۷ د یهوداه بادشاه امصیاه د اِسرائیل بادشاه یهوآس د مرګ نه پس پینځلس کاله ژوندے وو. ۱۸ امصیاه چې نور هر څۀ
هم کړی وُو هغه د یهوداه د بادشاهانو په تاریخ کښې لیکلے شوی دی. ۱۹ په یروشلم کښې د امصیاه د وژلو منصوبه
جوړه شوه، نو هغه د لکیس ښار ته وتښتېدو، خو دشمنان ورپسې وُو او هغه یې هلته ووژلو. ۲۰ د هغۀ لاش واپس یروشلم
ته په یو آس باندې راوړلے شو او د خپل پلار نیکۀ سره د داؤد په ښار کښې ښخ کړے شو. ۲۱ بیا د یهوداه خلقو د هغۀ د
شپاړسو کالو زوئ عُزیاه ته د بادشاهۍ تاج ورپه سر کړو. ۲۲ عُزیاه د خپل پلار د مرګ نه پس ایلات بیا فتح کړو او
دوباره یې جوړ کړو.

## دویم یربعام د اِسرائیل بادشاه

۲۳ د یهوداه بادشاه د یوآس زوئ امصیاه د بادشاهۍ په پینځلسم کال د یهوآس زوئ یربعام د اِسرائیل بادشاه شو او په
سامریه باندې یې یو څلوېښت کاله بادشاهي وکړه. ۲۴ هغۀ د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه او د خپل پلار نیکۀ د نباط
زوئ یربعام په بدو لارو باندې روان وو چا چې اِسرائیل د ګناه طرف ته بوتلی وُو. ۲۵ هغۀ هغه ټوله علاقه فتح کړه کومه
چې مخکښې د اِسرائیل وه چې په شمال کښې د حمات درې نه واخله په جنوب کښې د مړ درياب پورې وه. مالِک خُدائ د
بنی اِسرائیلو خُدائ پاک د خپل خِدمت کوونکی د امتی زوئ یُونس په ذریعه د هغې وعده کړې وه، څوک چې د جات‌حِفر
وو. ۲۶ مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو سخت تکلیف ولیدو، او داسې هیڅ څوک هم نۀ وُو چې د هغوئ مدد یې کړے وے.
۲۷ خو د مالِک خُدائ مقصد دا نۀ وو چې د اِسرائیلو نوم او نشان ختم کړی، نو هغوئ یې د دویم یربعام په ذریعه بچ
کړل. ۲۸ نور هر څۀ چې دویم یربعام کړی وُو، د هغۀ د بهادرۍ جنګونه او چې هغۀ دمشق او حمات څنګه اِسرائیل له
واپس ورکړے وو، دا هر څۀ د اِسرائیل د بادشاهانو په تاریخ کښې لیکلے شوی دی. ۲۹ یربعام مړ شو او په شاهی ادیره
کښې ښخ شو او د هغۀ زوئ زکریاه د هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د یهوداه بادشاه عُزیاه

۱۵ ۱ د اِسرائیل بادشاه یربعام دویم د بادشاهۍ په اوویشتم کال، د امصیاه زوئ عُزیاه د یهوداه بادشاه شو ۲ چې
عُمر یې شپاړس کاله وو او هغۀ په یروشلم کښې دوه پنځوس کاله بادشاهي وکړه. د هغۀ مور یکولیاه د یروشلم وه. ۳ هغه
د خپل پلار امصیاه په مِثالونو باندې روان وو، چې هغه کار یې کولو چې د مالِک خُدائ په نظر کښې ښۀ وو. ۴ خو
علاقائی عبادتخانې نۀ وې تباه شوی او خلقو هلته قربانۍ پېش کولې او خوشبوئی یې سوزولې. ۵ مالِک خُدائ په عُزیاه
باندې د جذام بیماری راوستله، چې د هغه وخت نه دا بیماری ټول عُمر ورسره وه. هغه په یو جدا کور کښې اوسېدو او د
هغۀ زوئ یوتام د محل مشر شو او په هغه مُلک یې حکومت کولو. ۶ نور هر څۀ چې عُزیاه کړی وُو هغه د یهوداه د
بادشاهانو په تاریخ کښې لیکلے شوی دی. ۷ چې عُزیاه مړ شو نو د خپل پلار نیکۀ سره د داؤد په ښار کښې ښخ شو او د
هغۀ زوئ یوتام د هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د اِسرائیل بادشاه زکریاه

۸ د یهوداه بادشاه عُزیاه د بادشاهۍ په اتۀ دېرشم کال د یربعام دویم زوئ زکریاه د اِسرائیل بادشاه شو او هغۀ په سامریه

کښې شپږ مياشتې حکومت وکړو. ۹ هغۀ د خپل پلار نيکۀ په شان د مالِک خُدائ په نظر کښې بدى وکړه. هغۀ د نباط
زوئ يربعام په بدو مِثالونو باندې عمل وکړو، چا چې اِسرائيل د گناه طرف ته بوتلى وُو. ۱۰ د يبيس زوئ سلوم د زکرياه
بادشاه خِلاف منصوبه جوړه کړه او د خلقو په مخکښې يې ووژلو او د هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو. ۱۱ نور هر څۀ چې
زکرياه کړى وُو هغه د اِسرائيل د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوى دى. ۱۲ نو هغه لوظ پوره شو چې کوم مالِک
خُدائ د ياهُو سره کړے وو چې، "ستا زامن به تر څلورم نسل پورې د اِسرائيل په تخت کښېنى." نو هم داسې وشول.

## د اِسرائيل بادشاه سلوم

۱۳ د يهوداه بادشاه عُزياه د بادشاهۍ په يو کم څلوېښتم کال د يبيس زوئ سلوم د اِسرائيل بادشاه شو او هغۀ په سامريه
باندې يوه مياشت حکومت وکړو. ۱۴ د جادى زوئ مناحم د تِرضاه نه سامريه ته لاړو، سلوم يې ووژلو او د هغۀ نه پس په
خپله بادشاه شو. ۱۵ نور هر څۀ چې سلوم کړى وُو، سره د هغۀ د منصوبې د حِساب کِتاب، هغه د اِسرائيل د بادشاهانو په
تاريخ کښې ليکلے شوى دى. ۱۶ کله چې مناحم د تِرضاه نه راروان وو، نو هغۀ د تِفسَح ښار ټول تباه کړو، د دې
اوسېدونکى او گېرچاپېره علاقه يې هم تباه کړه، ځکه چې دا ښار هغۀ ته نۀ حواله کېدو. هغۀ د اُميدوارو ښځو خېټې هم
وشلولې.

## د اِسرائيل بادشاه مناحم

۱۷ د يهوداه بادشاه عُزياه د بادشاهۍ په يو کم څلوېښتم کال، د جادى زوئ مناحم د اِسرائيل بادشاه شو او هغۀ په سامريه
کښې لس کاله حکومت وکړو. ۱۸ هغۀ د مالِک خُدائ خِلاف گناه وکړه او د خپلې بادشاهۍ په دوران کښې د هغې گناه نه
منع نۀ شو په کومې چې د نباط زوئ يربعام بادشاه اِسرائيل آخته کړى وُو. ۱۹ د اسور بادشاه تغلت فلاسر په اِسرائيل
حمله وکړه او مناحم هغۀ له څلور دېرش زره کلو سپين زر د دې دپاره ورکړل چې د مناحم په هغه مُلک کښې د حکومت
په مضبوطولو کښې يې ملگرتيا وکړى. ۲۰ مناحم د اِسرائيل د ټولو مالداره سړو نه په زور پيسې اخستلې. هر يو کس به
پنځوس د سپينو زرو سيکې محصُول ورکولو. نو تغلت فلاسر واپس خپل مُلک ته لاړو. ۲۱ مناحم چې نور هر څۀ هم کړى
وُو هغه د اِسرائيل د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوى دى. ۲۲ هغه مړ شو او ښخ کړے شو او د هغۀ زوئ فقحياه د
هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د اِسرائيل بادشاه فقحياه

۲۳ د يهوداه بادشاه عُزياه د بادشاهۍ په پنځوسم کال د مناحم زوئ فقحياه د اِسرائيل بادشاه جوړ شو او هغۀ په سامريه
کښې دوه کاله حکومت وکړو. ۲۴ هغۀ د مالِک خُدائ په نظر کښې بدى وکړه او د نباط زوئ يربعام په بدو مِثالونو باندې
يې عمل وکړو، چا چې په اِسرائيل گناه کړې وه. ۲۵ د فقحياه د فوج يو آفسر د رملياه زوئ فقح د جِلعاد د پنځوسو سړو
سره منصوبه جوړه کړه او په سامريه کښې د محل دننۍ قلعه کښې يې فقحياه ووژلو او د هغۀ نه پس په خپله بادشاه جوړ
شو. ۲۶ نور هر څۀ چې فقحياه کړى وُو هغه د اِسرائيل د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوى دى.

## د اِسرائيل بادشاه فقح

۲۷ د يهوداه بادشاه عُزياه د بادشاهۍ په دوه پنځوسم کال د رملياه زوئ فقح د اِسرائيل بادشاه شو او شل کاله يې په
سامريه کښې حکومت وکړو. ۲۸ هغهٔ د مالِک خُدائ په نظر کښې بدى وکړه او د نباط زوئ يربعام په بدو مِثالونو يې عمل
وکړو، چا چې په اِسرائيل کښې گناه کړې وه. ۲۹ د فقح د بادشاهۍ په دوران کښې د اسور بادشاه تغلت فلاسر د عيون،
ابيل‌بيت‌معکه، ينوحاه، قادِس، حصور او جِلعاد ښارونه، او د گليل او نفتالى علاقې قبضه کړې او خلق يې اسور ته قېديان
بوتلل. ۳۰ د يهوداه بادشاه د عُزياه زوئ يوتام د بادشاهۍ په شلم کال، د ايله زوئ هوسيع د فقح بادشاه خِلاف منصوبه
جوړه کړه، هغه يې ووژلو او د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو. ۳۱ نور هر څهٔ چې فقح کړى وُو هغه د اِسرائيل د بادشاهانو په
تاريخ کښې ليکلے شوى دى.

## د يهوداه بادشاه يوتام

۳۲ د اِسرائيل بادشاه د رملياه زوئ فقح د بادشاهۍ په دوېم کال، د عُزياه زوئ يوتام د يهوداه بادشاه جوړ شو ۳۳ چې
عُمر يې پينځويشت کاله وو، هغهٔ په يروشلم کښې شپاړس کاله بادشاهى وکړه. د هغهٔ مور يروسا د صدوق لور وه. ۳۴
يوتام د خپل پلار عُزياه په مِثالونو عمل وکړو او هغه کار يې کولو چې مالِک خُدائ پرې رضا کېدو. ۳۵ خو علاقائى
عبادتخانې نهٔ وې تباه شوى او خلقو هلته قربانۍ پېش کولې او خوشبوئى يې سوزولې. يوتام د مالِک خُدائ د کور شمالى
طرف ته دروازه جوړه کړه. ۳۶ يوتام چې نور څهٔ هم کړى دى هغه د يهوداه د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوى دى.
۳۷ د هغهٔ د بادشاهۍ په دوران کښې مالِک خُدائ وړومبے د شام بادشاه رضين او د اِسرائيل بادشاه فقح ورولېږل چې په
يهوداه باندې حمله وکړى. ۳۸ يوتام مړ شو او د داؤد په ښار کښې په شاهى اديره کښې ښخ شو او د هغهٔ زوئ احاز د هغهٔ
نه پس بادشاه جوړ شو.

## د يهوداه بادشاه احاز

۱۶ ۱ د اِسرائيل بادشاه د رملياه زوئ فقح د بادشاهۍ په اوولسم کال، د يوتام زوئ احاز د يهوداه بادشاه شو ۲ چې
عُمر يې شل کاله وو او هغهٔ په يروشلم باندې شپاړس کاله بادشاهى وکړه. هغهٔ هغه کار نهٔ کولو چې د مالِک خُدائ د هغهٔ د
خُدائ پاک په نظر کښې ښهٔ وو، اگر چې د هغهٔ پلار نيکهٔ داؤد ښهٔ کارونه کړى وُو ۳ خو د اِسرائيل بادشاهانو په مِثالونو
يې دومره عمل کولو، چې خپل زوئ يې هم په اور کښې قربانى کړو، او د هغه خلقو پليت رِواج يې خپل کړے وو کوم چې
مالِک خُدائ د هغه مُلک نه ويستلى وُو کله چې اِسرائيليان مخ په وړاندې تلل. ۴ په غرونو باندې او د هرې ونې د سورى
لاندې، او په علاقائى عبادتخانو احاز قربانۍ پېش کولې او خوشبوئى يې سوزولې. ۵ د شام بادشاه رضين او د اِسرائيل
بادشاه فقح په يروشلم باندې حمله وکړه او دا يې محاصره کړو، خو احاز له يې شکست نهٔ شو ورکولے. ۶ هم په هغه
وخت، د ادوم بادشاه د ايلات ښار بيا ونيولو او د يهوداه اوسېدونکى يې د هغې ځائ نه وشړل. ادوميان په ايلات کښې دېره
شول او تر اوسه پورې هلته اوسيږى. ۷ احاز د اسور بادشاه تغلت فلاسر له د دې پېغام سره سړى ولېږل، ”زهٔ ستاسو
وقف شوے خِدمت کوونکے يم. راشه او ما د شام او اِسرائيل د بادشاهانو د حملې نه بچ کړه.“ ۸ احاز د مالِک خُدائ د
کور او د محل د خزانې نه سرهٔ زر او سپين زر هم واخستل او بادشاه له يې د محصُول په توگه ولېږل. ۹ د احاز د
غوښتنې په جواب کښې تغلت فلاسر د دمشق خِلاف د خپل لښکر سره روان شو، دا يې قبضه کړو او رضين بادشاه يې
ووژلو او خلق يې قير ته قېديان بوتلل. ۱۰ کله چې احاز بادشاه د تغلت فلاسر سره د مِلاوېدو دپاره دمشق ته لاړو، نو هلته
يې قربان‌گاه وليده او اورِياه اِمام له يې هم د دې په شان نمونه او ټول تفصيل ورولېږلو. ۱۱ نو اورِياه هم د دې په شان يوه

قربانګاه جوړه کړه او د احاز د واپسی نه مخکښې يې دا تياره کړه. ۱۲ د دمشق نه په واپسی باندې، احاز وليدل چې
قربانګاه جوړه وه نو قربانی ورباندې پېش کړه. ۱۳ هغهٔ په دې باندې د څناورو سوزېدونکې قربانۍ او د غلې نذرانې پېش
کړې او په دې باندې يې د ميو نذرانه توئ کړه او د وينې د سلامتۍ نذرانه يې ورباندې واچوله. ۱۴ مالِک خُدائ ته وقف
شوې د زېړو قربانګاه د نوې قربانګاه او د مالِک خُدائ د کور په مينځ کښې وه، نو احاز دا د خپلې نوې قربانګاه شمالی
طرف ته يوړه. ۱۵ بيا هغهٔ اورِياه ته حُکم وکړو، "دا لويه قربانګاه د سحر سوزېدونکې نذرانې او د ماښام د غلې نذرانې
دپاره استعمالوه او د بادشاه او د خلقو د سوزېدونکې نذرانې، د غلې نذرانې او د خلقو د څښلو نذرانې دپاره يې استعمالوه.
په دې باندې د هغه ټولو څناورو وينه تويوه چې کوم قربانی شوی وی. خو د زېړو قربانګاه زما دپاره وساته چې د فال
دپاره يې استعمالوم." ۱۶ نو اورِياه هم هغه شان وکړل چې څنګه بادشاه حُکم کړے وو. ۱۷ احاز بادشاه د زېړو هغه
تختې او هغه ښانکونه لرې کړل، هغهٔ د زېړو د دولسو غوَيو د شا نه د زېړو ډيګۍ هم واخستله او دا يې د کاڼی په بنياد
کېښوده. ۱۸ د اسور بادشاه د خوشحالولو دپاره، احاز د مالِک خُدائ د کور نه د سبت د ورځې د شاهی تخت نه پاس
دالان هم لرې کړو او د مالِک خُدائ د کور د بادشاه د ننوتلو ذاتی دروازه يې بنده کړه. ۱۹ نور هر څهٔ چې احاز بادشاه
کړی دی هغه د يهوداه د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوی دی. ۲۰ احاز مړ شو او د داؤد ښار په شاهی اديره کښې
ښخ شو او د هغهٔ زوئ حزقياه د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د اِسرائيل بادشاه هوسيع

۱۷ ۱ د يهوداه بادشاه احاز د بادشاهۍ په دولسم کال، د ايله زوئ هوسيع د اِسرائيل بادشاه شو او هغهٔ په سامريه
کښې نهٔ کاله حکومت وکړو. ۲ هغهٔ د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه، خو دا د هغه بادشاهانو هومره نهٔ وه چا چې د هغهٔ
نه مخکښې په اِسرائيل حکومت کړے وو. ۳ د اسور بادشاه سلمنسر د هوسيع خِلاف جنګ وکړو، هوسيع د سلمنسر د
اختيار لاندې راغلو او هوسيع به هر کال هغهٔ له محصُول ورکولو. ۴ خو يو کال هوسيع د مِصر بادشاه سو له پېغام
ورُونکی ولېږل او د هغهٔ نه يې مدد وغوښتو او اسور له د هر کال محصُول ورکول بند کړل. کله چې سلمنسر د دې نه خبر
شو، نو هغهٔ هوسيع ونيولو او په قېدخانه کښې يې واچولو.

## د سامريه زوال

۵ بيا سلمنسر په اِسرائيل حمله وکړه او سامريه يې محاصره کړو. د محاصرې په دريم کال، ۶ چې دا د هوسيع د
بادشاهۍ نهم کال وو، د اسور بادشاه سامريه قبضه کړه، د اِسرائيل خلق يې اسور ته قېديان بوتلل او د هغوئ څهٔ کسان په
خلح ښار کښې، څهٔ د جوزان په ضِلع کښې د خابور سيند سره نزدې او څهٔ د ماديو ښارونو ته د اوسېدو دپاره ولېږل. ۷
د سامريه زوال ځکه وشو چې بنی اِسرائيلو د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک خِلاف ګناه کړې وه، چا چې هغوئ د مِصر
بادشاه فِرعون نه خلاص کړل او د مِصر نه يې راوويستل. هغوئ د نورو خُدايانو عبادت وکړو، ۸ او د هغه خلقو
رِواجونه يې خپل کړل چې مالِک خُدائ په هغه وخت شړلی وُو چې اِسرائيليان مخ په وړاندې تلل او چې د اِسرائيل
بادشاهانو کوم رِواجونه شروع کړی وُو نو هغه يې هم خپل کړل. ۹ اِسرائيليانو په پټه باندې هغه کارونه وکړل کوم چې
مالِک خُدائ د هغوئ خُدائ پاک منع کړی وُو. هغوئ د وړو ښارونو نه واخله تر پَخو ښارونو پورې د ځان دپاره علاقائی
عبادتخانې جوړې کړې. ۱۰ هغوئ په ټولو غرونو باندې او د هرې ونې د سوری لاندې د کاڼو ستنې او د اشيرې د بُت نښې
کېښودې، ۱۱ او د هغوئ په هره علاقائی عبادتخانې کښې خوشبوئی سوزولې لکه څنګه به چې غېر قومونو کول کوم خلق

چې مالِک خُدائ د هغه مُلک نه شړلی وُو. هغوئ د خپلو ټولو بدو عملونو په وجه د مالِک خُدائ قهر راوپارولو ۱۲ او د
مالِک خُدائ د هغه حُکم نافرمانی يې وکړه چې د بُتانو عبادت مۀ کوئ. ۱۳ د يهوداه او اِسرائيل د خبردارۍ دپاره مالِک
خُدائ پيغام وړُونکی او نبيان لېږلی وُو چې هغوئ فرمائيل، ”خپل بد عملونه پرېږدئ او زما حُکمونه ومنئ، چې په هغې کښې
هغه شريعت شامل دے چې کوم ما ستاسو پلار نيکۀ له ورکړے وو او د خپلو خِدمت کوونکو پيغمبرانو په ذريعه مې
ستاسو په حواله کړے دے.“ ۱۴ خو هغوئ به د هغۀ په وينا باندې عمل نۀ کولو، هغوئ د خپل پلار نيکۀ په شان ضديان
وُو، چا چې په مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک باندې يقين نۀ کولو. ۱۵ هغوئ هغه اصُول ونۀ منل او هغه لوظ يې پوره نۀ
کړو کوم يې چې د هغوئ د پلار نيکۀ سره کړے وو او هغوئ د هغۀ خبردارۍ ته پام ونۀ کړو. هغوئ د غلطو بُتانو عبادت
وکړو او خپل ځانونه يې سپک کړل، هغوئ د ګېرچاپېره قومونو په رِواجونو باندې روان وُو او د مالِک خُدائ د هغه حُکم
نافرمانی يې وکړه چې د هغوئ د رِواج نقل مۀ کوئ. ۱۶ هغوئ د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک ټول قانون مات کړو او د
ځان دپاره يې د سخو په شکل کښې دوه د سرو زور بُتان جوړ کړل، هغوئ د اشيرې بُت نښه هم جوړه کړه، د ستورو
عبادت يې وکړو او د بعل بُت خِدمت يې وکړو. ۱۷ هغوئ خپل زامن او لوڼه د غېرو قومونو خُدايانو ته د سوزېدونکې
نذرانې په توګه قربانی کړل، هغوئ د فالګرو او قسمت ښودونکو سره مشورې وکړې او هغوئ خپل ځانونه هغه څۀ ته حواله
کړل چې څۀ د مالِک خُدائ په نظر کښې غلط وُو او په دې کولو سره يې د هغۀ قهر راوپارولو. ۱۸ مالِک خُدائ اِسرائيل ته
غصه وو او د خپل حضور نه يې لرې کړل او صِرف د يهوداه بادشاهی يې په ځائ پرېښودله. ۱۹ خو د يهوداه خلقو هم د
مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک قانون ونۀ منلو، هغوئ د هغه رِواجونو نقل شروع کړو چې کوم اِسرائيل خپل کړی وُو. ۲۰
مالِک خُدائ ټول اِسرائيل رد کړو، هغوئ له يې سزا ورکړه او ظالمانو دشمنانو ته يې حواله کړل او په آخر کښې يې د خپل
حضور نه وشړل. ۲۱ کله چې مالِک خُدائ اِسرائيل د يهوداه نه جدا کړو، نو اِسرائيل د نباط زوئ يربعام خپل بادشاه جوړ
کړو. يربعام په هغوئ باندې مالِک خُدائ پرېښودو او په هغوئ باندې يې کبيره ګناه وکړه. ۲۲ هغوئ په يربعام پسې روان
وُو او چې هغۀ کوم ګناهونه کړی وُو نو هغه ټول يې کول، ۲۳ چې په آخر کښې مالِک خُدائ هغوئ د خپل حضور نه لرې
کړل، لکه څنګه چې هغۀ د خپلو خِدمت کوونکو پيغمبرانو په ذريعه خبردارے ورکړے وو چې داسې به وکړی. نو د اِسرائيل
خلق اسور ته جلاوطن کړے شول، چرته چې تر اوسه پورې اوسيږی.

## د اسوريانو د اِسرائيل په مُلک کښې اوسېدل

۲۴ د اسور بادشاه د بابل، کُوت، عِواه، حمات او سفروائم ښارونو نه خلق بوتلل او د سامريه په ښارونو کښې يې د
اِسرائيل د خلقو په ځائ دېره کړل. هغوئ دا ښارونه قبضه کړل او هلته اوسېدل. ۲۵ کله چې هغوئ هلته اوسېدل نو په
شروع کښې هغوئ د مالِک خُدائ عبادت نۀ کولو، نو هغۀ ازمری ورولېږل. او زمريانو د هغوئ نه څۀ کسان ووژل. ۲۶ د
اسور بادشاه ته وئيلی شوی وُو چې کوم خلق هغۀ د سامريه په ښارونو کښې آباد کړی دی هغوئ د هغه مُلک د معبود په
قانون باندې نۀ پوهيږی، نو ځکه هغه معبود ازمری رالېږلی وُو چې هغوئ يې ووژل. ۲۷ نو هغه بادشاه حُکم وکړو چې، ”د
هغه اِمامانو نه يو راولېږه چې کوم مونږ قېديان راوستی دی، هغه دې لاړ شی او هلته دې اوسيږی، چې خلقو ته د هغه مُلک
د خُدائ قانون وښائی.“ ۲۸ نو يو اِسرائيلے اِمام لاړو چې کوم د سامريه نه راويستلے شوے وو او په بيت‌ايل کښې د
اوسېدو دپاره لاړل، هلته يې خلقو ته دا ښودنه کوله چې د مالِک خُدائ عبادت به څنګه کوی. ۲۹ خو چې کوم خلق په
سامريه کښې اوسېدل نو هر يو قوم خپل قومی بُتان جوړ کړل او دا يې په هغه علاقائی زيارتونو کښې کېښودل چې
اِسرائيليانو جوړ کړی وُو. او هرې قبيلې په خپل خپل ښار کښې بُتان جوړ کړل. ۳۰ د بابل خلقو د سُکات بنات بُتان جوړ
کړل، د کُوت خلقو، د نيرګل بُتان، د حمات خلقو، د اسيما بُتان، ۳۱ د عِواه خلقو، د نِبحاز او ترتاق بُتان، او د سفروائم

خلقو خپل بچی د ادرمُلِک او عنمُلک خُدایانو ته د سوزېدونکې نذرانې په توګه قربانی کول. ۳۲ دې خلقو د مالِک خُدائ
عبادت هم کولو خو د هر قِسم خلقو نه يې اِمامان خوښ کړل چې په علاقائی عبادتخانو کښې د هغوئ دپاره نذرانې پېش
کوی. ۳۳ نو هغوئ د مالِک خُدائ عبادت کولو، خو چې هغوئ د کومو مُلکونو نه راغلی وُو د هغې د رِواجونو په مطابق يې
د خپلو خُدایانو عبادت هم کولو. ۳۴ هغوئ تر نن ورځې پورې هغه رِواجونه کوی. هغوئ نۀ د مالِک خُدائ عبادت کوی او
نۀ د هغه قانون او حُکمونه منی چې کوم يې د يعقوب اولاد له ورکړی وُو، يعقوب له اِسرائيل نوم ورکړے شوے وو. ۳۵
مالِک خُدائ د هغوئ سره يو لوظ کړے وو او هغوئ له يې حُکم ورکړے وو چې، ”د نورو معبودانو عبادت مۀ کوئ، هغوئ
ته سجده مۀ کوئ، د هغوئ خِدمت مۀ کوئ او هغوئ ته قربانی مۀ پېش کوئ. ۳۶ تاسو دې زما يعنې مالِک خُدائ
تابعداری کوئ، چا چې د لوئ طاقت او قوت سره د مِصر نه راوويستلئ، تاسو به ما ته سجده کوئ او ما ته به قربانی پېش
کوئ. ۳۷ تاسو به همېشه هغه قانون او حُکمونه منئ چې کوم ما درته ليکلی دی. تاسو دې د نورو خُدایانو عبادت ونۀ
کړئ، ۳۸ او تاسو هغه لوظ مۀ هېروئ چې کوم ما درسره کړے دے. او چې تاسو د نورو معبودانو عبادت ونۀ کړئ، ۳۹
خو تاسو زما، يعنې د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک عبادت کوئ او زۀ به تاسو د خپلو دشمنانو نه بچ کړم.“ ۴۰ خو هغه
خلقو به غوږ نۀ نيولو او په خپلو زړو رِواجونو باندې يې عمل کولو. ۴۱ نو هغه خلقو د مالِک خُدائ عبادت کولو، د خپلو
بُتانو عبادت يې هم کولو، نو د هغوئ اولاد تر نن ورځې پورې هم دغه کار نۀ پرېږدی.

## د يهوداه بادشاه حزقياه

**۱۸** ۱ نو د اِسرائيل بادشاه د ايله زوئ هوسيع د بادشاهۍ په درېم کال د احاز زوئ حزقياه د يهوداه بادشاه جوړ شو
۲ چې عُمر يې پينځۀويشت کاله وو او په يروشلم باندې يې نهۀويشت کاله بادشاهی وکړه. د هغۀ مور ابياه د زکرياه لور
وه. ۳ د خپل پلار نيکۀ داؤد په مِثالونو يې عمل وکړو، هغۀ هغه کار کولو چې د مالِک خُدائ په نظر کښې ښۀ وو. ۴
هغۀ علاقائی عبادتخانې تباه کړې، د کاڼی ستنې يې ماتې کړې او د اشيرې بُت نښې يې راوغورزولې. هغۀ د زېړو مار هم ټوټې
ټوټې کړو چې موسیٰ جوړ کړے وو، چې نوم يې نحشتان وو. ځکه چې تر اوسه پورې اِسرائيلو دې ته خوشبوئی سوزوله.
۵ حزقياه په مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو په خُدائ پاک باندې ايمان لرلو، په يهوداه کښې د هغۀ په شان بل بادشاه نۀ
مخکښې او نۀ وروستو تېر شوے دے. ۶ هغه د مالِک خُدائ وفادار وو او هيڅکله يې د هغۀ نافرمانی نۀ وه کړې او هغه
ټول حُکمونه يې پوره منل چې مالِک خُدائ موسیٰ له ورکړی وُو. ۷ نو مالِک خُدائ د هغۀ مل وو او هغه په هر کار کښې
کامياب وو. هغۀ د اسور د بادشاه خِلاف بغاوت وکړو او د هغۀ خِدمت يې نۀ کولو. ۸ هغۀ فلستيانو له شکست ورکړو او
د وړوکی کلی نه واخله تر لوئ ښار پورې يې قبضه کړل چې په دې کښې غزه او ګېرچاپېره علاقه شامله وه. ۹ د حزقياه
د بادشاهۍ په څلورم کال، چې په اِسرائيل باندې د هوسيع د بادشاهۍ اوۀم کال وو، د اسور بادشاه سلمنسر په اِسرائيل
حمله وکړه او سامريه يې محاصره کړو. ۱۰ د محاصرې په درېم کال، د سامريه زوال وشو، دا د حزقياه د بادشاهۍ
شپږم کال وو او د هوسيع د بادشاهۍ نهم کال وو. ۱۱ د اسور بادشاه د اِسرائيل خلق اسور ته قېديان بوتلل او د هغوئ ځۀ
کسان په خلع ښار کښې، ځۀ د خابور سيند سره نزدې د جوزان په ضِلع کښې او ځۀ د ماديو په ښارونو کښې يې آباد کړل.
۱۲ د سامريه زوال ځکه وشو چې د اِسرائيل خلق د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک تابعداری نۀ کوله او هغۀ سره يې
کړے لوظ مات کړو او د هغه ټول قانون نافرمانی يې وکړه چې خپل خِدمت کوونکی موسیٰ له يې ورکړے وو. هغوئ به نۀ
ورته غوږ نيولو او نۀ به يې پرې عمل کولو.

## د اسوريانو يروشلم له دهمکۍ ورکول

۱۳ د حزقياه بادشاه د بادشاهۍ په څوارلسم کال، د اسور بادشاه سينحرب، د يهوداه په پَخو ديوالونو په ښارونو باندې
حمله وکړه او فتح يې کړل. ۱۴ حزقياه سينحرب بادشاه له يو پيغام ولېږلو، چې هغه په لکيس کښې وو، "زما نه غلطي
شوې ده، مِهرباني وکړه چې خپله حمله بنده کړه او چې تهٔ څومره پېسې غواړې نو زهٔ به يې درکړم." نو بادشاه ترې نه
وغوښتل چې حزقياه هغهٔ له لس زره کلو سپين زر او زر کلو سرهٔ زر وروليږی. ۱۵ نو حزقياه هغهٔ ته د مالِک خُدائ د
کور او د محل د خزانې ټول سپين زر ورولېږل، ۱۶ هغهٔ د مالِک خُدائ کور د دروازو نه او هغه سرهٔ زر هم راوشوکول چې
هغهٔ وربانديې په خپله چوکاټونه پټ کړی وُو او سينحرب له يې ورولېږل. ۱۷ د اسور بادشاه د لکيس نه يو لوئ لښکر
ولېږلو چې په يروشلم کښې په حزقياه باندې حمله وکړی، چې د دې مشری د هغهٔ درې غټو آفسرانو کوله. کله چې هغوئ
يروشلم ته ورسېدل، نو هغوئ د ولې سره سړک قبضه کړو چې په دې کښې د بره ډنډ نه اوبهٔ راتلې، دا د هغه سړک سره
نزدې وو چې کوم د دهوبی پټی ته تلو. ۱۸ کله چې هغوئ حزقياه بادشاه راوغوښتلو، نو د هغهٔ درې آفسران د هغوئ سره
مِلاوېدو دپاره ور ووتل يعنې، د خِلقياه زوئ اِلياقيم، چې هغه د محل مشر وو، شبناه، د دربار منشی، او د آسف زوئ يوآخ،
چې د حِساب کِتاب مشر وو. ۱۹ يو اسوری آفسر هغوئ ته ووئيل چې، "بادشاه په دې باندې پوهېدل غواړی چې حزقياه په
څهٔ باندې ايمان لری چې دومره اعتباری دے؟ ۲۰ ستا په خيال تشې خبرې د فوجی تکړهتوب او طاقت ځائ نيولے شی؟
ستا يقين په چا دے چې زما خِلاف بغاوت کوې؟ ۲۱ تهٔ د مِصر نه دا طمع کوې چې هغه به ستا مدد وکړی، خو دا به د
لوخې د پانې د امسا په شان وی، چې لاس به دې غوڅ او زخمی کړی. نو د مِصر بادشاه فِرعون باندې چې کله څوک
بهروسه وکړی نو هغه داسې وی. ۲۲ يا به تهٔ ما ته دا ووائې چې تهٔ په مالِک خُدائ په خپل خُدائ پاک باندې بهروسه کوې.
خو دا هغه خُدائ پاک نهٔ دے چې حزقياه د هغهٔ علاقائی عبادتخانې او قربانګاه ختمې کړې، او هغهٔ د يهوداه او د يروشلم
خلقو ته وفرمائيل چې صِرف په يروشلم کښې د قربانګاه سره عبادت کوئ. ۲۳ نو خبره واورئ، زما د نېک د اسور
بادشاه سره معاهده وکړئ، زهٔ به تاسو له دوه زره آسونه درکړم کهٔ تاسو دومره سړی پيدا کړل چې په دې باندې سوارهٔ
شی. ۲۴ تهٔ د اسور د يو معمولی آفسر برابر هم نهٔ يئ او تهٔ بيا هم په طمع يې چې مِصريان به جنګی ګاډی او آسونه
راولېږی. ۲۵ ستا په خيال ما د مالِک خُدائ د مدد نه بغير ستا په مُلک حمله کړې ده او تباه کړے مې دے؟ ما ته مالِک
خُدائ په خپله فرمائيلی دی چې په دې باندې حمله وکړم او تباه يې کړم." ۲۶ نو اِلياقيم، شبناه او يوآخ هغه آفسر ته ووئيل،
"تهٔ د خپلو نوکرانو سره په آرامی ژبه کښې خبرې وکړه، مونږ په دې پوهېږو. مونږ سره په عبرانی کښې خبرې مهٔ کوه، ځکه
چې په ديوال باندې خلق به يې واوری." ۲۷ هغهٔ ورته ووئيل، "ستا خيال دا دے څهٔ چې يواځې تهٔ او بادشاه هغه خلق يئ
چې زما نېک تاسو ته د دې هر څهٔ وئيلو دپاره رالېږلے يم؟ نه، زهٔ هم هغه خلقو ته وايم کوم چې په ديوال ناست دی، ستاسو
په شان هغوئ به هم خپل غُل وخوری او خپلې متيازې به وڅښی." ۲۸ بيا هغه آفسر ودرېدو او په عبرانی کښې يې آواز
وکړو، "د لوئ بادشاه، د اسور د بادشاه خبره واورئ. ۲۹ بادشاه داسې وائی چې حزقياه مو دوکه نهٔ کړی. حزقياه تاسو
زما د لاس نه نهٔ شی بچ کولے. ۳۰ او هغه دې ته مهٔ پرېږدئ چې تاسو ته ووائی چې په مالِک خُدائ يقين وکړئ. دا خيال
مهٔ کوئ چې مالِک خُدائ به تاسو بچ کړی او چې هغه به زمونږ اسوری لښکر ستاسو د ښار قبضه کولو نه ايسار کړی.
۳۱ حزقياه ته غوږ مهٔ نيسئ. د اسور بادشاه تاسو له حُکم درکوی چې د ښار نه راوځئ او ما سره روغه وکړئ. تاسو ته به
اجازت وی چې د خپلو د انګورو باغونو نه انګور خورئ او د اينځر د ونو نه اينځر خورئ او د خپلو کُوهيانو نه اوبهٔ څښئ،
۳۲ تر دې پورې چې بادشاه تاسو بيا په يو داسې مُلک کښې آباد کړی لکه چې ستاسو خپل وی، چې هلته د انګورو باغونه
وی چې تاسو له مے درکوی او چې هلته د روټۍ تيارولو دپاره غله وی، هغه د زيتُونو د ونو، د زيتُونو تېلو او د شاتو مُلک
دے. کهٔ تاسو هغه څهٔ کوئ چې څهٔ حُکم يې درکوی، نو تاسو به نهٔ مرئ او ژوندی به يئ. حزقياه مو چې دوکه نهٔ کړی چې

درته ووائی چې مالِک خُدائ به مو بچ کړی. ۳۳ د نورو قومونو خُدایانو خپل خلق د اسور د بادشاه نه کله بچ کړی دی؟
۳۴ د حمات او ارفاد خُدایان اوس چرته دی؟ د سفروائم، هینع او عِواه خُدایان چرته دی؟ سامریه بل چا بچ کړے شو
څۀ؟ ۳۵ د دې ټولو مُلکونو خُدایانو کله هم خپل مُلک زمونږ د بادشاه نه بچ کړے دے څۀ؟ نو مالِک خُدائ به یروشلم زما
نه څنګه بچ کړی؟" ۳۶ خو خلق خاموش وُو او یوه خبره یې هم نۀ کوله ځکه چې حزقیاه حُکم ورکړے وو چې، "هغۀ له
جواب مۀ ورکوئ." ۳۷ نو اِلیاقیم، شبناه او یوآخ د خفګان نه خپلې جامې وشلولې او هغوئ لاړل او چې د اسور آفسر څۀ
وئیلی وُو هغه یې بادشاه ته ووئیل.

## د بادشاه یشعیاه نه مشوره غوښتل

**۱۹** ۱ څنګه چې حزقیاه بادشاه د هغوئ بیان واورېدو، نو هغۀ د خفګان نه خپلې جامې وشلولې، د ټاټ جامې یې
واغوستلې او د مالِک خُدائ کور ته ننوتو. ۲ هغۀ د محل مشر آفسر اِلیاقیم، د دربار منشی شبناه، او مشران اِمامان، د
آموص زوئ یشعیاه پېغمبر له ولېږل، دې ټولو د ټاټ جامې اغوستې وې. ۳ هغوئ ته یې ووئیل چې یشعیاه له دا پېغام
ورسوئ، "نن د خفګان، ملامتیا او د شرم ورځ ده. مونږ د هغه ښځې په شان یُو چې ماشوم یې پېدا کېږی، خو د پېدا کېدو
طاقت نۀ لری. ۴ د اسور بادشاه خپل مشر آفسر د ژوندی خُدائ د بې‌عزتۍ کولو دپاره رالېږلے دے. مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک دې د دې بې‌عزتۍ نه خبر شی او چې چا دا بې‌عزتی کړې وی نو هغوئ له دې سزا ورکړی. زمونږ د
ژوندو پاتې خلقو دپاره خُدائ پاک ته سوال وکړئ." ۵ کله چې یشعیاه ته د حزقیاه بادشاه پېغام مِلاو شو، ۶ نو یشعیاه
هغوئ ته وفرمائیل، "خپل نېک ته ووایئ چې مالِک خُدائ داسې فرمائی چې، کومې خبرې تا اورېدلې دی د هغې په وجه مۀ
یرېږه، چې د اسور بادشاه نوکرانو په هغې کښې زما ګستاخی کړې ده. ۷ غوږ ونیسه، مالِک خُدائ به په بادشاه باندې یوه
افواه واوروی نو هغه به واپس خپل مُلک ته لاړ شی او مالِک خُدائ به یې هلته په چا ووژنی."

## د اسوریانو بله دهمکی ورلېږل

۸ د اسور آفسر خبر شو چې بادشاه د لکیس نه تلے دے او د نزدې ښار لِبناه خِلاف جنګ کوی، نو هغه ورَغلو چې
مشوره ورسره وکړی. ۹ اسوریانو له دا خبر ورورسېدو چې د ایتهوپیا بادشاه ترهاقه د مشری لاندې مِصرے لښکر په
هغوئ باندې د حملې دپاره راروان دے. کله چې بادشاه د دې نه خبر شو، نو هغۀ د یهوداه بادشاه حزقیاه له دا پېغام ولېږلو
۱۰ چې هغۀ ته داسې ووائی، "په کوم خُدائ چې تاسو یقین کوئ هغۀ تاسو ته فرمائیلی دی چې تاسو به زما په قبضه کښې
نۀ راځئ، خو چې په هغۀ باندې دوکه نۀ شئ. ۱۱ ګورئ چې د اسور بادشاه د کوم مُلک تباه کولو فیصله وکړی نو په هغې
باندې څۀ کوی، ستاسو خیال دے چې خلاص به شئ؟ ۱۲ زما پلار نیکۀ د جوزان، حاران او رصف ښارونه تباه کړل، د
بیت‌عدن خلق یې ووژل چې کوم په تلسار کښې اوسېدل او د هغوئ یو خُدائ هم هغوئ بچ نۀ کړل. ۱۳ د حمات، ارفاد،
سفروائم، هینع او د عِواه ښارونو بادشاهان چرته دی؟" ۱۴ حزقیاه بادشاه د پېغام وړونکو نه خط واخستلو او وې لوستلو.
بیا هغه د مالِک خُدائ کور ته لاړو او خط یې هلته د مالِک خُدائ په حضور کښې کېښودو، ۱۵ او دُعا یې وکړه، "اے
مالِکه خُدایه، د اِسرائیل خُدایه پاکه، تۀ د وزرو والا مخلوق په مینځ کښې په تخت ناست یې، یواځې تۀ خُدائ پاک یې، چې د
دُنیا په ټولو بادشاهانو باندې حکومت کوې. تا زمکه او آسمان پېدا کړی دی. ۱۶ نو مالِکه خُدایه، چې په مونږ څۀ کېږی
هغې ته وګوره. هغه ټولې خبرې واوره چې سینحرب یې تا یعنې ژوندی خُدائ پاک ته د بې‌عزتۍ دپاره کوی. ۱۷ مالِکه
خُدایه، دا رښتیا دی چې د اسور بادشاهانو ډېر قومونه تباه کړی دی او د هغوئ زمکې یې شاړې کړې دی. ۱۸ او د هغوئ

خُدایان یې اور ته اچولی دی او سوزولی یې دی، اسوریانو دا ځکه تباه کړے شول، چې په حقیقت کښې دا خُدایان نهٔ وُو او
تش د لرګو او کاڼو نه انسانانو جوړ کړی وُو. ۱۹ نو زمونږ مالِکه خُدایه پاکه، مونږ د اسوریانو نه بچ کړه او اے مالِکه
خُدایه، د دُنیا ټولو قومونو ته به پته ولګی چې صرف تهٔ رښتونے خُدائ پاک یې."

## بادشاه ته د یشعیاه پیغام

۲۰ بیا د آموص زوئ یشعیاه حزقیاه له دا پیغام ولیږلو، "مالِک خُدائ د اِسرائیل خُدائ پاک فرمائی چې، ما د اسوریانو
بادشاه سینحرب په حقله ستا دُعا اوریدلې ده. ۲۱ مالِک خُدائ په دې حقله فرمائیلی دی چې، پېغله لور صیون تا پورې
خاندی او تا ته سپک ګوری. ۲۲ دا تهٔ په چا پورې خندا کوې او د چا بې‌عزتی کوې؟ تهٔ زما یعنې د اِسرائیلو مقدس خُدائ
پاک بې‌عزتی کوې. ۲۳ تا ما له ستا پیغام وړُونکی راولیږل چې ما ته دا لافې ووهی چې تا د خپلو ټولو جنګی ګاډو سره د
لبنان اوچت غرونه فتح کړی دی، هلته دې د دِیار لوړې ونې او د نختر ښې ونې راوغورزولې او چې تهٔ د ځنګلو هغه ګڼو
برخو ته ورسیدلې. ۲۴ تا لافې وهلې چې تا کوهی وکنستل او په پردو مُلکونو کښې دې اوبهٔ وڅښلې او ستا فوجیانو د پښو
سره د نیل دریاب اوچ کړو. ۲۵ تهٔ خبر نهٔ یې چې ما د دې هر څهٔ ډیر د مخکښې نه منصوبه جوړه کړې وه؟ او اوس مې
داسې وکړل او تا له مې دا طاقت درکړو چې د پَخو دیوالونو ښارونه د خاورو په ډیرو بدل کړې. ۲۶ د هغه ځائ خلق
کمزوری وُو، هغوئ یریدلی او شرمیدلی وُو. هغوئ په پټی کښې د بوټو په شان وُو یا لکه چې په چت باندې واښهٔ شوی وی
چې د نمرخاتهٔ ګرمې هوا وهلی وی. ۲۷ خو ما ته پته ده چې تهٔ څهٔ کوې او چرته ځې او چې تهٔ ما ته څومره غصه یې. ۲۸
ما ته ستا د غضب او غرور خبر رارسیدلے دے، نو زهٔ به ستا په پوزه کښې کُنډه او ستا په خولهٔ کښې واګې اچوم او چې
په کومه لار راغلے یې نو په هغې به دې واپس ولیږم." ۲۹ نو یشعیاه حزقیاه بادشاه ته وفرمائیل، "څهٔ چې کیدونکی دی نو
د هغې په حقله به درته ووایم. په دې کال او په بل کال به تهٔ قدرتی شوے خوراک خورې، خو په وریسې کال به غله وکرې
او ویه یې ریبې او د انګورو باغونه به وکرې او انګور به وخورې. ۳۰ په یهوداه کښې چې کوم کسان ژوندی پاتې دی، نو
هغوئ به د هغه بوټو په شان آباد شی چې جرړې یې په زمکه کښې ژورې ځی او میوه کوی. ۳۱ په یروشلم کښې او د
صیون په غرهٔ باندې به خلق ژوندی پاتې شی، ځکه چې د مالِک خُدائ ربُ الافواج غیرت به داسې وکړی. ۳۲ مالِک خُدائ
د اسور بادشاه په حقله فرمائیلی دی، هغه به دې ښار ته نهٔ ننوځی او نهٔ به د دې خِلاف یو غشے وولی. یو فوجی به هم د
ډال سره دې ښار ته نزدې رانهٔ شی او د دې محاصرې دپاره به د خاورو ډیرے جوړ نهٔ کړے شی. ۳۳ هغه چې په کومه
لار راغلے وی نو په هغې به واپس لاړ شی او ښار ته به دننه لاړ نهٔ شی. ما، یعنې مالِک خُدائ داسې فرمائیلی دی. ۳۴ د
خپل عزت او د خپل خِدمت کوونکی داؤد د خاطره به زهٔ د دې ښار ساتنه او حِفاظت کوم." ۳۵ په هغه شپه د اسوریانو
خېمو ته د مالِک خُدائ یوه فرښته ننوتله او یو لاک پینځهٔ اتیا زره فوجیان یې ووژل. په وریسې سحر وختی هغوئ ټول هلته
مړهٔ پراتهٔ وُو. ۳۶ بیا د اسور بادشاه سینحرب راواپس شو او نینوه ته لاړو. ۳۷ یوه ورځ چې هغهٔ د خپل معبود نِسروک په
عبادتخانه کښې عبادت کولو، نو د هغهٔ دوو زامنو ادرمُلِک او شراضر هغه د خپلو تُورو سره ووژلو او بیا هغوئ د ارارط
مُلک ته وتښتیدل. د هغهٔ یو بل زوئ اسرحدون د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د حزقیاه بادشاه بیماریدل او بیا روغیدل

۲۰ ۱ په هغه ورځو کښې حزقیاه بادشاه بیمار شو او مرګ ته نزدې وو. د آموص زوئ، یشعیاه پیغمبر ورَغلو او هغهٔ
ته یې وفرمائیل، "مالِک خُدائ تا ته فرمائی چې خپلې معاملې سمبال کړه. ځکه چې تهٔ به مړ کیږې، تهٔ به روغ نهٔ شې." ۲

حزقیاه مخ دېوال ته واړولو او دُعا یې وکړه، ۳ "مالِکه خُدایه، هغه رایاد کړه، چې ما په ایمانداری او د زړهٔ د اخلاصه
ستا خِدمت کړے دے او ستا د رضا دپاره مې هر کار کړے دے." او هغهٔ ډېر په چغو چغو وژړل. ۴ یشعیاه د بادشاه نه
روان شو، خو هغه لا د محل د مرکزی دربار نه تېر شوے نهٔ وو چې د مالِک خُدائ کلام پرې نازل شو، ۵ "د مالِک
خُدائ د خلقو بادشاه حزقیاه له واپس لاړ شه او هغهٔ ته ووایه، ما یعنې مالِک خُدائ، ستا د پلار نیکهٔ داؤد خُدائ پاک ستا
دُعا اورېدلې ده او ستا اوښکې مې لیدلې دی. زهٔ به تا روغ کړم او په درې ورځو کښې به د مالِک خُدائ کور ته لاړ شې.
۶ زهٔ به ستا په عُمر کښې پینځلس کاله نور زیات کړم. زهٔ به تا او د یروشلم دا ښار د اسور بادشاه نه بچ کړم. زهٔ به د
خپل عزت او د خپل خِدمت کوونکی داؤد د خاطره د دې ښار حِفاظت کوم." ۷ بیا یشعیاه د بادشاه کسانو ته وفرمائیل
چې د هغهٔ په دانه باندې د اینځر نه جوړ شوے مرهم ولګوئ، نو هغه به روغ شی. ۸ حزقیاه بادشاه تپوس وکړو، "د دې
ثبوت نښه به څهٔ وی چې مالِک خُدائ به ما روغ کړی او په درېمه ورځ به د مالِک خُدائ کور ته لاړ شم؟" ۹ یشعیاه ورته
وفرمائیل، "مالِک خُدائ به د دې نښه درته وښائی چې هغه به خپله وعده پوره کړی. نو ستا څنګه خوښه ده چې دا سورے
لس قدمه مخکښې لاړ شی یا لس قدمه وروستو لاړ شی؟" ۱۰ حزقیاه ورته وفرمائیل، "دا آسان دی چې په پوړی باندې
سورے لس قدمه مخکښې لاړ شی. دا لس قدمه وروستو بوځه." ۱۱ یشعیاه مالِک خُدائ ته سوال وکړو او مالِک خُدائ د
احاز په پوړی باندې سورے لس قدمه وروستو بوتلو.

## د بابل پېغام وړُونکی

۱۲ تقریباً هم په هغه وخت د بابل بادشاه د بلدان زوئ، مرودک‌بلدان خبر شو چې حزقیاه بادشاه بیمار دے، نو هغهٔ ورله
یو خط او یوه تُحفه ولېږله. ۱۳ حزقیاه پېغام وړونکو ته په خېر راغلے ووئیل او هغوئ ته یې خپل سرهٔ زر، سپین زر، خپلې
مصالحې او قیمتی تېل او خپل ټول فوجی سامان وښودلو. د هغهٔ د ګودام په کوټو کښې یا د هغهٔ د بادشاهۍ په بل ځائ
کښې هم داسې څهٔ نهٔ وُو چې هغهٔ ورته ښودلی نهٔ وُو. ۱۴ بیا یشعیاه پېغمبر حزقیاه بادشاه له لاړو او تپوس یې ترې نه
وکړو، "دا سړی د کوم ځائ نه راغلی دی او هغوئ تا ته څهٔ وفرمائیل؟" حزقیاه ورته ووئیل، "هغوئ د یو لرې مُلک بابل نه
راغلی دی." ۱۵ یشعیاه ترې نه تپوس وکړو، "په محل کښې یې څهٔ ولیدل؟" حزقیاه بادشاه جواب ورکړو، "هغوئ هر څهٔ
ولیدل. زما په خزانه کښې داسې څهٔ نشته چې ما ورته ښودلی نهٔ وی." ۱۶ بیا یشعیاه بادشاه ته وفرمائیل، "مالِک خُدائ
تعالیٰ داسې فرمائی چې ۱۷ یو داسې وخت راروان دے چې ستا په محل کښې هر یو څیز، چې ستا پلار نیکهٔ تر ننه پورې
جمع کړی دی، نو هغه به بابل ته یوړلے شی. هیڅ به هم پاتې نهٔ شی. ۱۸ ستا څهٔ اولاد به بوتلے شی او د هغوئ نه به
خصیان جوړ کړے شی چې د بابل بادشاه په محل کښې خِدمت کوی." ۱۹ نو حزقیاه بادشاه د دې په مطلب پوهه شو
چې د هغهٔ په ژوند کښې به امن او تحفُظ وی، نو هغهٔ ورته ووئیل، "تا چې ما له د مالِک خُدائ نه کوم پېغام راوړے دے
هغه ښهٔ دے."

## د حزقیاه د بادشاهۍ ختمېدل

۲۰ نور هر څهٔ چې حزقیاه بادشاه کړی وُو، د هغهٔ د بهادرۍ کارنامې او هغه حِساب کِتاب چې هغهٔ ډنډ جوړ کړے وو او
چې یو سورنګ یې کنستلے وو چې ښار له اوبهٔ راولی، دا هر څهٔ د یهوداه د بادشاهانو په تاریخ کښې لیکلے شوی دی. ۲۱
حزقیاه مړ شو او د هغهٔ زوئ منسی د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د يهوداه بادشاه منسى

۲۱ ۱ منسى د دولسو کالو وو چې هغه د يهوداه بادشاه جوړ شو او هغۀ په يروشلم پينځۀ پنځوس کاله بادشاهى وکړه.
د هغۀ مور حفصيباه وه. ۲ منسى د هغه قومونو پليت رِواجونه کول چې مالِک خُدائ د اِسرائيلو نه وړاندې شړلى وُو، او
په دې کولو يې د مالِک خُدائ خِلاف گناه وکړه. ۳ هغۀ د غېرو قومونو د عبادت ځايونه بيا جوړ کړل کوم چې د هغۀ پلار
حزقياه تباه کړى وُو، هغۀ د بعل د عبادت دپاره قربانگاه جوړې کړې او د اِسرائيل بادشاه اخى‌اب په شان د اشيرې بُت
نښه يې جوړه کړه. منسى د ستورو عبادت هم کولو. ۴ هغۀ د مالِک خُدائ په کور کښې د غېرو قومونو قربانگاه جوړې
کړې، په هغه ځائ کښې چې مالِک خُدائ فرمائيلى وُو، ”زما نوم به په يروشلم کښې هميشه باقى پاتې وى.“ ۵ د مالِک
خُدائ د کور په دوو درباړونو کښې هغۀ د ستورو د عبادت دپاره قربانگاه جوړې کړې. ۶ هغۀ خپل زوئ د سوزېدونکې
نذرانې په توگه پېش کړو. هغۀ د کوډو او جادو نه کار واخستو او قسمت ښودونکو او فالگرو سره يې مشورې کولې. هغۀ د
مالِک خُدائ خِلاف لويه گناه وکړه او د هغۀ غصه يې راوپاروله. ۷ هغۀ د اشيرې بُت نښه د مالِک خُدائ په کور کښې
کېښوده، چې د دې په حقله مالِک خُدائ داؤد او د هغۀ زوئ سليمان ته فرمائيلى وُو، ”په يروشلم کښې، په دې کور کښې
هغه ځائ دے چې ما د بنى اِسرائيلو د ټولو دولسو قبيلو نه خوښ کړے دے چې چرته به زما د نوم درناوے کيږى. ۸ او
که اِسرائيليان زما ټول حُکمونه منى او هغه ټول قانون ومنى چې زما خِدمت کوونکى موسىٰ هغوئ له ورکړے دے، نو
هغوئ به د هغه مُلک نه نۀ شى شړلے چې ما د هغوئ پلار نيکۀ له ورکړے وو.“ ۹ خو د يهوداه خلقو د مالِک خُدائ
تابعدارى نۀ کوله او منسى هغوئ د هغې نه هم لويو گناهونو کولو طرف ته بوتلل چې کوم هغه قومونو کړى وُو چې مالِک
خُدائ هغوئ د هغه مُلک نه شړلى وُو چې په کوم وخت کښې د هغۀ خلق مخ په وړاندې تلل. ۱۰ د خپلو خِدمت کوونکو
پېغمبرانو په ذريعه مالِک خُدائ فرمائيلى وُو، ۱۱ ”منسى بادشاه حرام کارونه کړى دى، د هغه کارونو نه هم ډېر بد چې
کوم کنعانيانو کړى وُو، او هغۀ د خپلو بُتانو سره د يهوداه خلق د گناه طرف ته بوتلى وُو. ۱۲ نو زۀ مالِک خُدائ د اِسرائيل
خُدائ پاک په يروشلم او په يهوداه يو داسې افت راولم چې هر څوک د دې نه خبر شى نو په هغوئ به وېښتۀ زيگ‌زيگ
ودريږى. ۱۳ زۀ به يروشلم له داسې سزا ورکړم لکه چې سامريه، د اِسرائيل بادشاه اخى‌اب او د هغۀ اولاد له مې ورکړې
وه. زۀ به يروشلم د دې د خلقو نه داسې خالى کړم، لکه چې څوک لوښے صفا کړى او په بل مخ يې واړوى. ۱۴ چې کوم
خلق ژوندى پاتې وى نو زۀ به يې پرېږدم او خپلو دشمنانو ته به يې حواله کړم، چې فتح يې کړى او د هغوئ مُلک لوټ
کړى. ۱۵ زۀ د خپلو خلقو سره داسې ځکه کوم چې هغوئ زما خِلاف گناه کړې ده. او د هغه وخت نه چې د هغوئ پلار
نيکۀ د مِصر نه راوتلى دى تر نن ورځې پورې يې زما غصه راپاروله ده.“ ۱۶ منسى دومره ډېر بې‌گناه خلق قتل کړل چې د
يروشلم د يو سر نه تر بل سر پورې وينې بهېدلې، د دې نه علاوه هغۀ د يهوداه خلق د بُت پرستۍ طرف ته بوتلل او هغوئ يې
دې ته جوړ کړل چې د مالِک خُدائ خِلاف گناه وکړى. ۱۷ نور هر څۀ چې منسى کړى وُو، سره د هغه گناهونو چې هغۀ
کړى وُو، نو هغه د يهوداه د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوى دى. ۱۸ منسى مړ شو او د محل په باغ يعنې د عُزا په
باغ کښې ښخ شو، د هغۀ زوئ امون د هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د يهوداه بادشاه امون

۱۹ امون د دوويشتو کالو وو چې هغه د يهوداه بادشاه جوړ شو او دوه کاله يې په يروشلم بادشاهى وکړه. د هغۀ مور
مسلمت وه چې د يُطبه د ښار د حروص لور وه. ۲۰ د خپل پلار منسى په شان، هغۀ هم د مالِک خُدائ خِلاف گناه وکړه،
۲۱ هغه د خپل پلار په نقش قدم باندې روان وو او چې د هغۀ پلار د کومو بُتانو خِدمت کړے وو نو هغۀ هم ورته سجدې

لګولې. ۲۲ هغهٔ مالِک خُدائ، د خپل پلار نيکهٔ خُدائ پاک رد کړو او د مالِک خُدائ د حُکمونو نافرمانی يې وکړه. ۲۳ د
امون آفسرانو د هغهٔ خِلاف منصوبه جوړه کړه او په محل کښې يې ووژلو. ۲۴ د يهوداه خلقو د امون قاتِلان ووژل او د هغهٔ
زوئ يوسياه يې د هغهٔ په ځائ بادشاه جوړ کړو. ۲۵ امون چې نور هر څهٔ کړی وُو هغه د يهوداه د بادشاهانو په تاريخ کښې
ليکلے شوی دی. ۲۶ امون د عُزا د باغ په اديره کښې ښخ شو او د هغهٔ زوئ يوسياه د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د يهوداه بادشاه يوسياه

۲۲ ۱ يوسياه د اتو کالو وو چې هغه د يهوداه بادشاه شو او هغهٔ په يروشلم باندې يو دېرش کاله بادشاهی وکړه. د هغهٔ
مور جديده وه، چې د بُصقت ښار د عداياه لور وه. ۲ يوسياه هغه کار کولو چې مالِک خُدائ پرې رضا کېدو، هغهٔ د خپل
پلار نيکهٔ داؤد په مِثالونو عمل کولو او د دې نه يو خوا بل خوا نهٔ اوړېدو.

## د تورات شريف موندلے کېدل

۳ د خپلې بادشاهئ په اتلسم کال، يوسياه بادشاه د دربار منشی سافن چې د اصلياه زوئ او مسلام نمسے وو، د دې
حُکم سره د مالِک خُدائ کور ته ولېږلو، ۴ "مشر اِمام خِلقياه له لاړ شه او د هغه پېسو پته ولګوه چې د مالِک خُدائ د
کور د ننوتلو په دروازه کښې خادمانو د خلقو نه راغونډې کړې دی. ۵-۶ او هغهٔ ته ووايه چې پېسې هغه سړو له ورکړی
کوم چې د مالِک خُدائ د کور د مرمت مشران دی. هغوئ به ترکاڼانو، ټېکدارانو او ګلکارانو له مزدوری ورکوی او چې په
مرمت کښې څهٔ لرګی او کاڼی استعماليږی نو هغه دې اخلی. ۷ خو چې هغوئ له کومې پېسې ورکړے شوې وی نو د
هغې حِساب کِتاب ورسره مهٔ کوئ، ځکه چې هغوئ د ايمانداری سره لېن دېن کوی." ۸ سافن منشی خِلقياه ته د بادشاه
حُکم ورسولو او خِلقياه هغهٔ ته ووئيل چې هغهٔ د مالِک خُدائ په کور کښې د تورات کِتاب موندلے دے. خِلقياه کِتاب
ورکړو او سافن ولوستلو. ۹ بيا هغه واپس بادشاه له لاړو او د دې نه يې خبر کړو، "د مالِک خُدائ په کور کښې چې
کومې پېسې جمع شوې وې هغه ستا خِدمت کوونکو اخستې دی او هغه سړو له يې ورکړې دی چې د مرمت مشران دی."
۱۰ او هغهٔ ووئيل، "ما سره دلته يو کِتاب دے چې خِلقياه راکړے دے." او بادشاه ته يې دا ولوستلو. ۱۱ کله چې بادشاه
د شريعت د کِتاب خبرې واورېدې، نو هغهٔ د خفګان نه خپلې جامې وشلولې، ۱۲ او خِلقياه اِمام، د سافن زوئ اخيقام، د
ميکاياه زوئ عکبور، د دربار منشی سافن او د بادشاه نوکر عساياه له يې دا حُکم ورکړو، ۱۳ "لاړ شئ او د مالِک خُدائ
سره، زما او د يهوداه د ټولو خلقو دپاره د دې کِتاب د تعليماتو خبره وکړئ. مالِک خُدائ مونږ ته سخت غصه دے ځکه
چې دا کِتاب کومې خبرې کوی نو زمونږ پلار نيکهٔ په دې باندې عمل نهٔ دے کړے." ۱۴ نو خِلقياه، اخيقام، عکبور، سافن
او عساياه لاړل چې د خُلده نومې ښځې سره مشوره وکړی، هغه يوه پېغمبره وه چې د يروشلم په نوې محله کښې اوسېدله.
(د هغې خاوند سلوم، د تِقوه زوئ او د خرخس نمسے، د مالِک خُدائ د کور د جُوغو مشر وو.) نو هغوئ ورته خبره وکړه،
۱۵ او هغې هغوئ ته ووئيل چې واپس بادشاه له لاړ شئ ۱۶ او د مالِک خُدائ دا پيغام هغهٔ له ورکړئ، "زهٔ به يروشلم او د
دې ټولو خلقو له سزا ورکړم لکه څنګه چې په هغه کِتاب کښې ليکلے شوی دی چې بادشاه ولوستلو. ۱۷ هغوئ زهٔ رد
کړے يم او نورو خُدايانو ته يې نذرانې پېش کړې دی او چې هغوئ څهٔ کړی دی د هغې په وجه يې زما غصه راپاروله ده.
زما غصه د يروشلم خِلاف راپاڅېدلې ده او دا به نهٔ سړيږی. ۱۸ او په خپله بادشاه ته، زهٔ مالِک خُدائ د اِسرائيل خُدائ
پاک داسې وايم، چې په کِتاب کښې څهٔ ليکلی دی تا هغې ته غوږ ونيولو، ۱۹ او کله چې تا واورېدل چې ما يروشلم او د
دې خلقو له د سزا ورکولو خبره کړې ده، نو توبه دې وويستله او عاجزی دې ښکاره کړه، جامې دې وشلولې او ودې ژړل.

دا ښار به شاړ او ویجاړ کړم چې خلق به وربانديې لعنت وائی. خو ما ستا سوال اورېدلے دے، ۲۰ خو چې زهٔ کومه سزا
یروشلم له ورکوم هغه به ستا په ژوند کښې نهٔ راځی. تهٔ به په خېر سره مړ شې.“ نو هغه سړی د دې پېغام سره یوسیاه
بادشاه له راواپس شول.

### د یوسیاه د غېرو قومونو عبادتخانې ختمول

۲۳ ۱ بیا یوسیاه بادشاه د یهوداه او یروشلم ټول مشران راوغوښتل، ۲ او هغوئ په یو ځائ د مالِک خُدائ کور ته
لاړل، چې اِمامان، پېغمبران او باقی نور ټول خلق د واړو نه واخله تر غټو پورې ورسره وُو. د هغوئ ټولو په وړاندې، بادشاه
د لوظ هغه ټول کِتاب ولوستلو کوم چې د مالِک خُدائ په کور کښې موندلے شوے وو. ۳ هغه د شاهی ستنې سره
ودرېدو او د مالِک خُدائ سره یې یو لوظ وکړو چې د هغهٔ تابعداری به کوی او د زړهٔ د اخلاصه به د هغهٔ ټول قانون او
حُکمونه منی او چې د هغه لوظ په مطالبو به عمل کوی، څنګه چې په کِتاب کښې لیکلے شوی دی. او ټولو خلقو دا لوظ
ومنلو. ۴ بیا یوسیاه مشر اِمام خِلقیاه له، د هغهٔ لاندې اِمامانو او د مالِک خُدائ د کور د ننوتلو د دروازې خادمانو له
حُکم ورکړو چې د مالِک خُدائ د کور هغه ټول څیزونه وباسی چې د بعل، د اشیرې بُت او د ستورو په عبادت کښې
استعمال شوی وی. بادشاه دا ټول څیزونه د قِدرون د وادۍ په پټو کښې د ښار نه بهر وسوزول او د دې ایرې یې بیت‌ایل ته
یوړې. ۵ هغهٔ بُت پرسته اِمامان لرې کړل چې د یهوداه بادشاهانو مقرر کړی وُو چې کومو د یهوداه په ښارونو کښې په
علاقائی عبادتخانو او یروشلم ته نزدې ځایونو کښې قربانۍ پېش کولې، هغه ټول اِمامان یې لرې کړل چا چې بعل، نمر،
سپوږمۍ، سیارو او ستورو ته قربانۍ پېش کولې. ۶ هغهٔ د مالِک خُدائ کور نه د اشیرې بُت نښه لرې کړله، د ښار نه بهر
د قِدرون وادۍ ته یې یوړه، وې سوزوله او خاورې یې کړه او د دې ایره یې د عامو خلقو په قبرونو باندې وشیندله. ۷ هغهٔ
د مالِک خُدائ په کور کښې د اوسېدو هغه کوټې ورانې کړې چې د هغه کور نرانو کنجرانو نیولې وې، چرته چې ښځو د
اشیرې بُت دپاره چُوغې جوړولې. ۸ د یهوداه په ښارونو کښې چې کوم اِمامان وُو هغه یې یروشلم ته راوستل او په ټول
مُلک کښې یې علاقائی عبادتخانه ناپاکه کړه چرته چې هغوئ قربانۍ پېش کړې وې. هغهٔ د ښار د حکمران یشوَع د دروازې
په خولهٔ کښې علاقائی عبادتخانې تباه کړې. دا دروازه ښار ته د ننوتو د دروازې په ګس طرف باندې وه. ۹ هغه علاقائی
اِمامانو ته دا اجازت نهٔ وو چې په یروشلم کښې یې د مالِک خُدائ د قربان‌ګاه خِدمت کړے وے، خو چې د هغوئ ملګرو
اِمامانو ته کومه پتیره روټۍ مِلاو شوې وه نو هغه یې خوړلے شوه. ۱۰ او هغهٔ د هنوم په وادۍ کښې د غېرو قومونو د
عبادت ځائ توفت هم ناپاک کړو، نو چې هېڅ څوک خپل زوئ یا لور مولک بُت ته د سوزېدونکې نذرانې په توګه نهٔ شی
قربانی کولے. ۱۱ د آسونو هغه مجسمې یې هم لرې کړې چې د یهوداه بادشاه نمر ته وقف کړې وې او چې په دې کښې
کومې جنګی ګاډۍ استعمالېدلې هغه یې وسوزولې. (دا د مالِک خُدائ د کور په دربار کښې ایښودے شوې وې، چې د
دروازې او د مشر آفسر ناتن مُلک د اوسېدو د کوټې سره نزدې وې.) ۱۲ هغه ټولې قربان‌ګاه چې د یهوداه بادشاهانو د
محل په چت باندې د احاز بادشاه د کوټې نه بره جوړې کړې وې نو یوسیاه بادشاه هغه راوغورزولې، سره د هغه قربان‌ګاه
چې منسی بادشاه د مالِک خُدائ کور په دوو دربارونو کښې ایښې وې، هغهٔ قربان‌ګاه ذرې ذرې کړلې او د دې ټُکړې یې د
قِدرون په وادۍ کښې واچولې. ۱۳ یوسیاه هغه علاقائی عبادتخانې ناپاکې کړې چې سلیمان بادشاه د یروشلم نمرخاتهٔ طرف
ته او د زیتُونو غرهٔ جنوبی طرف ته د بې‌کاره بُتانو عبادت دپاره جوړې کړې وې، یعنې د صیدان عستاراتې بُت، د موآب بُت
کموس او د عمون بُت مولک. ۱۴ یوسیاه بادشاه د کاڼو ستنې ټوټې کړې، د اشیرې بُت نښې یې راوغورزولې او چې دا
چرته ولاړې وې نو هغه ځائ یې د بنیادمو په هډُوکو باندې پټ کړو. ۱۵ یوسیاه په بیت‌ایل کښې د عبادت هغه ځائ هم

راوغورزولو چې د نباط زوئ يربعام بادشاه جوړ کړے وو، چا چې اِسرائيل د گناه طرف ته بوتلى وُو. يوسياه قربانگاه
راوغورزوله، د دې کانى يې ټوټې ټوټې او خاورې کړل، هغهٔ د اشيرې مجسمه هم وسوزوله. ۱۶ يوسياه مخ واړولو او هلته
يې د غرهٔ دپاسه څهٔ قبرونه وليدل، هډُوکى يې ترې نه رابهر کړل او په قربانگاه باندې يې وسوزول. نو هغه قربانگاه يې
ناپاکه کړه، چې د دې هغه پېغمبر ډېر پخوا پېشگوئي کړې وه چې د اختر په وخت کښې يربعام بادشاه د قربانگاه سره ولاړ
وو. يوسياه بادشاه وکتل او د هغه پېغمبر قبر يې وليدو چې کوم دا پېشگوئي کړې وه. ۱۷ هغهٔ تپوس وکړو، ”دا د چا قبر
دے؟“ د بيت‌ايل خلقو ورته ووئيل، ”دا د هغه پېغمبر قبر دے کوم چې د يهوداه نه راغلے وو او د دې پېشگوئي يې کړې وه
چې تا د قربانگاه سره وکړل.“ ۱۸ يوسياه حُکم وکړو، ”دا هم داسې پرېږدئ، د هغهٔ هډُوکى دې څوک نهٔ لرې کوى.“ نو د
هغهٔ هډُوکى يې لرې نهٔ کړل او نهٔ د هغه پېغمبر هډُوکى لرې کړے شول چې د سامريه نه راغلے وو. ۱۹ په سامريه کښې
يوسياه بادشاه په هر يو ښار کښې علاقائى زيارتونه راوغورزول چې کوم د اِسرائيل بادشاهانو جوړ کړى وُو او د مالِک
خُدائ غصه يې راپاروله وه. هغهٔ په هغه ټولو قربانگاه باندې هم هغه شان وکړل چې څنگه يې په بيت‌ايل کښې کړى وُو.
۲۰ هغهٔ د ټولو علاقائى عبادتخانو اِمامان په قربانگاه باندې ووژل چرته چې هغوئ خِدمت کولو او هغهٔ په هره قربانگاه
باندې د بنيادمو هډُوکى وسوزول او بيا هغه يروشلم ته راواپس شو.

## يوسياه د فسحې اختر کوى

۲۱ نو يوسياه بادشاه خلقو له حُکم ورکړو چې د مالِک خُدائ د هغوئ د خُدائ پاک په درناوى کښې د فسحې اختر
وکړئ، لکه څنگه چې د لوظ په کِتاب کښې ليکلے شوى دى. ۲۲ د قاضيانو د حکومت د وخت نه پس، د دې په شان د
فسحې اختر د اِسرائيل يا د يهوداه يو بادشاه هم نهٔ وو کړے. ۲۳ او د يوسياه د بادشاهئ په اتلسم کال په يروشلم کښې د
فسحې اختر وکړے شو.

## د يوسياه نور بدلون راوستل

۲۴ په هغه کِتاب کښې د ليکلى شوى قانون عملى کولو دپاره چې خِلقياه اِمام د مالِک خُدائ په کور کښې موندلے وو،
يوسياه بادشاه د يروشلم او د نور ټول يهوداه نه ټول جادوگر او قسمت ښودونکى او کورنى ټول بُتان او د غېرو قومونو د
عبادت نور ټول حرام څيزونه لرې کړل. ۲۵ د هغهٔ نه مخکښې هيڅکله هم د هغهٔ په شان بادشاه نهٔ وو تېر شوے، چا چې د
زړهٔ د اخلاصه، د ټول عقل او طاقت سره د مالِک خُدائ خِدمت کړے وى او د موسىٰ ټول قانون يې منلے وى، او نهٔ
وروستو د هغهٔ په شان بادشاه پېدا شوے وو. ۲۶ خو منسى بادشاه چې څهٔ کړى وُو نو د هغې په وجه د مالِک خُدائ
سخته غصه راوچته شوې وه او لا سړه شوې نهٔ وه. ۲۷ مالِک خُدائ وفرمائيل، ”ما چې د اِسرائيل سره څهٔ کړى دى نو
هغه به په يهوداه هم وکړم، د يهوداه خلق به زهٔ د خپل نظر نه لرې کړم او زهٔ به يروشلم رد کړم، کوم ښار او کور چې ما
خوښ کړے وو او چې ما فرمائيلى وُو چې هلته به زما عبادت کيږى.“

## د يوسياه د بادشاهئ ختمېدل

۲۸ يوسياه بادشاه چې نور څهٔ هم کړى دى هغه د يهوداه د بادشاهانو په تاريخ کښې ليکلے شوى دى. ۲۹ چې کله يوسياه
بادشاه وو، نو د مِصر بادشاه نِکوه فِرعون د فرات سيند له يو لښکر بوتلو چې د اسور بادشاه مدد وکړى. يوسياه بادشاه په
مِجدو کښې د مِصرى لښکر سره مخامخ شو او په جنگ کښې ووژلے شو. ۳۰ د هغهٔ آفسرانو د هغهٔ لاش په يوه جنگى

ګاډۍ کښې کېښودو او یروشلم ته یې یوړو او هلته په شاهی اديره کښې ښخ کړے شو. د یهوداه خلقو د یوسیاه زوئ یهوآخز خوښ کړو او هغه یې بادشاه مقرر کړو.

## د یهوداه بادشاه یهوآخز

٣١ یهوآخز د درویشتو کالو وو چې هغه د یهوداه بادشاه شو او هغهٔ په یروشلم باندې درې میاشتې حکومت وکړو. د هغهٔ مور حموطل وه، چې د لِبناه د ښار د یرمیاه لور وه. ٣٢ هغه د خپل پلار نیکهٔ په نقش قدم باندې روان وو او هغهٔ د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه. ٣٣ د هغهٔ بادشاهی په هغه وخت ختمه شوه چې د مِصر بادشاه نِکوه فِرعون د حمات مُلک رِبله ته هغه قېدی بوتلو، نو په یهوداه باندې یې درې زره ځلور سوه کلو سپین زر او ځلور دېرش کلو سرهٔ زر محصُول حواله کړو. ٣۴ نِکوه فِرعون د یوسیاه زوئ اِلیاقیم د یوسیاه نه پس د یهوداه بادشاه جوړ کړو او د هغهٔ نوم یې یهویقیم ته بدل کړو. نِکوه فِرعون یهوآخز مِصر ته بوتلو او هلته مړ شو.

## د یهوداه بادشاه یهویقیم

٣۵ یهویقیم بادشاه د خلقو د دولت په مطابق د هغوئ نه محصُول راغونډولو، چې هغه غوښتونکې پېسې پوره کړی چې د مِصر بادشاه فِرعون له په محصُول کښې ورکولے شوې. ٣۶ یهویقیم د پینځویشتو کالو وو چې هغه د یهوداه بادشاه جوړ شو او هغهٔ په یروشلم باندې یوولس کاله بادشاهی وکړه. د هغهٔ مور زبوده وه چې د روماه ښار د فدایاه لور وه. ٣٧ هغه د خپل پلار نیکهٔ په نقش قدم باندې روان وو، یهویقیم د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه.

٢۴ ١ کله چې یهویقیم بادشاه وو، نو د بابل بادشاه نبوکدنضر په یهوداه حمله وکړه او درې کاله یې په یهویقیم باندې زور راوړلو چې د هغهٔ حکومت ته تسلیم شی، بیا یهویقیم بغاوت وکړو. ٢ نو مالِک خُدائ د یهویقیم خِلاف د یهوداه د تباه کولو دپاره، د بابل، اسور، موآب او عمون لښکرې ولېږلې، لکه څنګه چې مالِک خُدائ د خپلو خِدمت کوونکو پېغمبرانو په ذریعه فرمائیلی وُو چې هغه به داسې کوی. ٣ د مالِک خُدائ په حُکم باندې داسې څکه وشول چې د یهوداه خلق د خپل حضور نه لرې کړی، دا د هغه ټولو ګناهونه په وجه چې منسی بادشاه کړی وُو. ۴ د هغه بې‌ګناه خلقو د وینې په وجه چې هغهٔ توئ کړې وه، نو مالِک خُدائ څکه منسی نهٔ شو معاف کولے. ۵ نور هر څهٔ چې یهویقیم کړی دی هغه د یهوداه د بادشاهانو په تاریخ کښې لیکلے شوی دی. ۶ یهویقیم مړ شو او د هغهٔ زوئ یهویاکین د هغهٔ نه پس بادشاه جوړ شو. ٧ د مِصر بادشاه او د هغهٔ لښکر بیا هیڅکله هم د مِصر نه لا نهٔ رِل، څکه چې اوس د بابل بادشاه د مِصر ټوله علاقه قبضه کړې وه، دا د فرات سیند نه واخله د مِصر شمالی سرحد پورې وه.

## د یهوداه بادشاه یهویاکین

٨ یهویاکین د اتلسو کالو وو چې هغه د یهوداه بادشاه شو او هغهٔ په یروشلم باندې درې میاشتې بادشاهی وکړه. د هغهٔ مور نحشتا وه چې د یروشلم د الناتن لور وه. ٩ یهویاکین د مالِک خُدائ په نظر کښې بد عمل کولو هم هغه شان لکه څنګه عمل چې د هغهٔ پلار کړے وو. ١٠ د هغهٔ په دور کښې د بابل فوج د یروشلم خِلاف روان شو چې مشری یې د نبوکدنضر بادشاه آفسرانو کوله او یروشلم یې محاصره کړو. ١١ د محاصرې په دوران کښې نبوکدنضر په خپله یروشلم ته

راغلو، ۱۲ او يهوياکين بادشاه، سره د خپلې مور، زامنو، آفسرانو او سره د محل د آفسرانو بابليانو ته تسليم شو. د
نبوکدنضر د بادشاهۍ په اتم کال هغهٔ يهوياکين قېدى کړو ۱۳ او د محل او د مالِک خُدائ د کور ټولې خزانې يې بابل ته
يوړې. لکه څنګه چې مالِک خُدائ پېشګوئي کړې وه، نبوکدنضر د سرو زرو هغه ټول سامان مات کړو کوم چې سليمان
بادشاه د مالِک خُدائ د کور دپاره جوړ کړے وو. ۱۴ نبوکدنضر د يروشلم خلق، ټول شهزادګان او ټول مشران سړى
قېديان بوتلل چې دا ټول په شمېر کښې لس زره وُو. هغهٔ سره د لوهارانو، ټول ماهِر کاريګران وويستل او په يهوداه کښې يې
صِرف مسکينان خلق پرېښودل. ۱۵ نبوکدنضر، يهوياکين د يهوياکين مور، د هغهٔ ښځې، د هغهٔ آفسران او د يهوداه د
مشران بابل ته قېديان بوتلل. ۱۶ د بابل بادشاه نبوکدنضر ټول فوجيان هم وويستل چې په شمېر کښې اووهٔ زره وُو، چې په
جنګ کښې ښهٔ تکړه وُو او ورسره يو زر ماهِر کاريګران او لوهاران هم وُو. ۱۷ نبوکدنضر د يهوياکين ترهٔ متنياه د هغهٔ په
ځائ د يهوداه بادشاه جوړ کړو او د متنياه نوم يې صدقياه ته بدل کړو.

## د يهوداه بادشاه صدقياه

۱۸ صدقياه د يويشتو کالو وو چې هغه د يهوداه بادشاه جوړ شو او هغهٔ په يروشلم باندې يوولس کاله بادشاهي وکړه. د
هغهٔ مور حموطل وه، چې د لِبناه د ښار د يرمياه لور وه. ۱۹ صدقياه بادشاه د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه بلکل هم
هغسې لکه چې يهويقيم بادشاه کړې وه. ۲۰ نو مالِک خُدائ د يروشلم او د يهوداه خلقو ته دومره غصه شو چې په آخر
کښې يې هغوئ د خپل حضور نه لرې کړل. صدقياه د بابل بادشاه خِلاف بغاوت وکړو.

## د يروشلم تباهي

۲۵ ۱ نو د صدقياه د بادشاهۍ په نهم کال، د لسمې مياشتې په لسمه ورځ، د بابل بادشاه نبوکدنضر د خپل ټول لښکر
سره د يروشلم خِلاف روان شو. هغهٔ د ښار نه بهر خېمې ولګولې او د ښار نه ګېرچاپېره يې د محاصرې دېوالونه تاو کړل.
۲ او د صدقياه د بادشاهۍ تر يوولسم کال پورې يې دا محاصره کړے وه. ۳ هم د هغه کال د څلورمې مياشتې په نهمه
ورځ، کله چې قحط دومره سخت وو چې د خلقو سره د خوراک هيڅ هم پاتې نهٔ وُو، ۴ نو په يو ځائ کښې د ښار دېوال
وغورزولے شو او ټول فوجيان وتښتېدل. اګر چې ښار بابليانو محاصره کړے وو خو هغوئ د شپې د دوو دېوالونو په مينځ
کښې په دروازه باندې ووتل، چې دا د شاهي باغ نه شاته وه او هغوئ د اُردن وادۍ طرف ته روان شول. ۵ خو د بابليانو
لښکر په صدقياه بادشاه پسې وو، يريحو ته نزدې په مېدانونو کښې يې ونيولو او خپل ټول فوجيان ترې نه لاړل او هغه يې
يواځې پرېښودو. ۶ صدقياه نبوکدنضر بادشاه له بوتلے شو، چې هغه د رِبله په ښار کښې وو او هلته نبوکدنضر په هغهٔ
باندې سزا وخېژوله. ۷ نو د صدقياه په مخکښې د هغهٔ دوه زامن ووژلے شول، نبوکدنضر د صدقياه نه سترګې
ووېستلې، هغه يې د زېړو په هتکړو کښې وتړلو او بابل ته يې بوتلو.

## د مالِک خُدائ د کور تباه کېدل

۸ د بابل بادشاه نبوکدنضر د بادشاهۍ د نولسم کال د پينځمې مياشتې په اوومه ورځ، د بادشاه مشير او د هغهٔ د لښکر
مشر نبوزردان يروشلم ته ورننه شو. ۹ هغهٔ د مالِک خُدائ کور، شاهي محل او د يروشلم ټول کورونه وسوزول، هغهٔ د
ښار هر يو لوئ عمارت وسوزولو. ۱۰ او د هغهٔ فوجيانو د ښار دېوالونه راوغورزول. ۱۱ د شاهي محافظانو مشر

نبوزردان، هغه خلق وويستل کوم چې په ښار کښې پاتې ؤو، په دې کښې ماهِر کاريګران او هغه خلق شامل ؤو چا چې د بابل بادشاه خِلاف بغاوت کړے وو. ١٢ خو هغۀ په يهوداه کښې سخت مسکينان خلق پرېښودل، چې د انګور په باغونو او پټو کښې کَرل ريبل کوی. ١٣ بابليانو د زېړو ستنې او هغه ګاډئ ټوټې ټوټې کړې چې کومې د مالِک خُدائ په کور کښې وې، د زېړو هغه لويه ډيګی يې سره د ټولو زېړو بابل ته يوړله. ١٤ هغوئ بېلچې او د قربانګاه د پاکولو د ايرو لوښی هم يوړل، د ډيوو د خيال ساتلو سامان، د قربانئ د وينې جامونه، د خوشبويئ سوزولو لوښی او د زېړو نور ټول سامان چې د مالِک خُدائ د کور په کار کښې استعمالېدو. ١٥ هغوئ هغه هر څۀ يوړل چې د سرو زرو يا سپينو زرو نه جوړ ؤو، د هغه وړو جامونو او لوښو سره چې د بلو سکارو وړلو دپاره استعمالېدل. ١٦ سليمان بادشاه د مالِک خُدائ د کور دپاره چې کوم سامان يې د زېړو نه جوړ کړے وو، يعنې، دوه ستنې، ګاډئ او لويه ډيګی، خو د دې ټولو دومره وزن وو چې تللے نۀ شو. ١٧ دواړه ستنې يو شان وې، هره يوه تقريباً نهۀ ګزه اوچته وه چې د بره د زېړو سر يې تقريباً دوه ګزه اوچت وو. د هر يو سر نه ګېرچاپېره يې د زېړو جال وو چې د زېړو نه جوړو شوو انارو باندې ښائسته کړے شوے وو.

## د يهوداه خلقو بابل ته بوتلے کېدل

١٨ د دې نه علاوه، فوجی آفسر، مشر اِمام شراياه، وريسې اِمام صفنياه او د مالِک خُدائ د کور نور درې اهم خادمان قېديان بوتلل. ١٩ د ښار نه يې هغه آفسر بوتلو چې د فوجيانو مشر وو، پينځۀ د بادشاه ذاتی مشيران چې لا په ښار کښې ؤو، د فوجی مشر مدد کوونکے، چې هغه د فوجی حِساب کِتاب مشر وو او شپېته نور اهم سړی يې بوتلل. ٢٠ نبوزردان هغوئ د بابل بادشاه له بوتلل، چې هغه د رِبله په ښار کښې وو ٢١ چې دا د حمات په علاقه کښې دے. هلته بادشاه هغوئ ووهل او مړۀ يې کړل. نو داسې د يهوداه خلق پردی مُلک ته بوتلے شول.

## د يهوداه حکمران جدلياه

٢٢ د بابل نبوکدنضر د سافن نمسے او د اخيقام زوئ جدلياه، د يهوداه حکمران جوړ کړو. او هغه يې په هغه ټولو باندې مشر مقرر کړو کوم چې بابل ته نۀ ؤو بوتلے شوی. ٢٣ کله چې د يهوداه آفسران او فوجيان د دې نه خبر شول کوم چې تسليم شوی نۀ ؤو، نو هغوئ په مصفاه کښې د جدلياه سره مِلاو شول. هغه آفسران دا ؤو، د نتنياه زوئ اِسمٰعيل، د قريح زوئ يوحانان، د تنحومت زوئ شراياه چې د نطوفاتی د ښار وو او د معکه يازنياه. ٢٤ جدلياه هغوئ ته ووئيل، "زۀ تاسو ته دا خبره کوم چې د بابل د آفسرانو نه مۀ يرېږئ. په دې مُلک کښې اوسېږئ، د بابل د بادشاه خِدمت کوئ، نو ستاسو هر کار به سم وی." ٢٥ خو د هغه کال په اوومه مياشت، د شاهی خاندان اليسمع نمسے او د نتنياه زوئ اِسمٰعيل د لسو کسانو سره مصفاه ته لاړو، په جدلياه يې حمله وکړه او وې وژلو. د هغۀ سره چې کوم يهوديان او بابليان ؤو هغه يې هم ووژل. ٢٦ بيا ټول اِسرائيليان، مالداره او غريبانان، سره د فوج د آفسرانو روان شول او مِصر ته لاړل، ځکه چې هغوئ د بابليانو نه يرېدل.

## د يهوياکين د قيد نه آزادېدل

٢٧ په کوم کال چې اويلمرودک د بابل بادشاه شو، نو هغۀ د يهوداه بادشاه په يهوياکين باندې رحم وکړو او هغه يې د قېدخانې نه آزاد کړو. دا د يهوياکين د قېدی بوتلے کېدو په اووۀ دېرشم کال د دولسمې مياشتې په اوويشتمه ورځ باندې وشول. ٢٨ اويلمرودک د هغۀ سره ښۀ سلوک وکړو او د هغه نورو بادشاهانو نه يې هم د لوئ عزت ځائ ورکړو کوم چې

د هغهٔ سره په بابل کښې جلاوطن وُو. ﴿۲۹﴾ نو يهوياکين د قېدخانې جامې بدلې کړې او باقى ټول عُمر يې د بادشاه په
دسترخوان روټۍ خوړله. ﴿۳۰﴾ چې ترڅو هغه ژوندے وو، نو هره ورځ هغهٔ ته باقاعده خرچه مِلاوېده.